دِي چه ټول صداقت پوره کړو پس هغه ئي پرېښود ۱۶ او يسوع چه ۱۶
بپتسما وموندله نو دستي له اوبو را وخوت او کوره چه آسمانونه ورته
پرانتلي شول او روح دَ اَللّٰه ئي وليد چه دَ کوترې په شان راکوزيده
او په ده بانْدِ راغي ۱۷ اوکوره چه آواز له آسمانونو راغي چه ويل ۱۷
ئي چه دا دَي هغه محبوب ځوي ځما چه زه پرِ خوښ يم ✠

## څلورم باب

۱ نو يسوع له رُوحُ اَلقُدُسَ بيابان ته بوتلي شه چه دَ اِبلِيسَ وآزمايلي ۱
شِي ۲ او هرګاه چه څلوېښت ورځي او شپي ئي روژه ولرله آخر وږي ۲
شه ۳ نو ازمايونکي ورغي ورته وئي ويل چه که ته اِبنُ اَللّٰه يي ۳
نو ووايه چه دا کاڼِي ډوډۍ شِي ۴ ده په ځواب کښ وويل چه ليکلِي ۴
دِي چه سړي به نه ټش په ډوډۍ ژوندي وِي بلکه په هرې خبرې
چه دَ اَللّٰه له خولي راووزي ۵ هغه وقت اِبلِيس مُقَدَّس ښهر ته ۵
بوت او دَ هيکل په کُنګرې بانْدِ ئي ودراوه ۶ ورته وئي ويل چه که ۶
ته دَ اَللّٰه ځوي يي نو خپل ځان ښکته وغورزوه ځکه چه ليکلِي
شوِي دِي چه

دَي به ستا دَپارَ خپلو فرښتو ته حکم ورکړِي
او هغوي به تا په خپلو لاسونو کښ پاس ونيسِي
هسي نه چه ته خپلي پښي په کاڼِي بانْدِ ووهي

۷ يسوع ورته ووِ چه دا بيا ليکلِي دِي چه ۷

ته خداوند اَللّٰه خپل مه اَزمايه

۸ بيا اِبلِيس يَو ډېر لوړ غره ته بوته او ټول بادشاهتونه دَ دُنيا او دَ ۸
هغو لوئي ئي ور ښکاره کړلَ ۹ ورته وئي ويل چه که ته پريوزي او ۹
سجده را ته وکړي نو دا به ټول تا ته درکړم ۱۰ نو يسوع ورته ووِ ۱۰
چه لري شه اي شَيطانَ ولي چه ليکلِي شوِي دِي چه

ته خداوند اَللّٰه خپل ته سجده کوه

نه وړاندي وُو په دي شان ئې وربړول
١٣ ١٣ تاسو دَ زمکي مالګه يئِ مګر چه مالګه خرابه شِي نو په کوم شي
به مالګينه شِي نو په هيڅ کارنه راځِي بي له دي نه چه باهر وغورځولي شِي
١٤ او له سړيو پايماله کړِي شِي ١٤ تاسو نور دَ عالم يئِ امکان نه لرِي چه هغه ښهر
١٥ چه پاس په غره بانډِ يښي شوي وِي پټ شِـــي ١٥ هيڅوک ډيوه نه
بلوِي چه تراوږي لانډِ ئې کيږدِي بلکه په ډِيوټ بانډِ پس هغـــو ټولو چه په کورکښ دِي
١٦ رڼا ورکوِي ١٦ هم داسي دِ نُور ستاسو دَ سړيو دَ وړانډِ وځليږي تا چه
ستاسو نيک کارونه ووِينِي او ستاسو دَ پلارِ چه په آسمانونوکښ دي
تمجيد وکړِيَ
١٧ ١٧ ګُـــمان مه کوئِ چه زه دَ توريت يا دَ نبيانو دَ صحيفو دَ
منسوخ کولو دَپارَ راغلي يم منسوخ کولو دَپارَ نه بلکه دَ کامِلَولو دَپـارَ راغلي
١٨ يم ١٨ څکه چه تاسو ته رښتيا وايم چه تر هغه پوري چه آسمان او
زمکه لري نه شِي يو همزه يا يوُ تکي به له توريت نه بيځي لرِي نه شِي
١٩ تر هغه چـه ټول و نه شِي ١٩ پس هغـه څوک چـه يـو وړوکي
له دي حکمونو نه مات کړِي او په هغه شان ئې سړيو ته وښيِي هغه
به په بادشاهئِ دَ آسمانونو کښ وړوکي وباله شِي مګر هغه څوک
چه عمل کوِي او وئې ښئِي هم هغه به دَ آسمانونو په بادشاهئِ کښ
٢٠ لوي وباله شِي ٢٠ څکه زه تاسو ته وايـم چه کهٔ ستاسو صداقت
دَ کاتبانو او دَ فَريسِيّانو له صداقت نه زيات نه شِي نو په بادشاهئِ
دَ آسمانونو کښ به هرګز داخل نه شئِ
٢١ ٢١ تاسو اوريدلِي دِي چه وړانډِينو ته وِيلي شوِي دِي چه قتل
٢٢ مه کوئِ نو هغه څوک چه قتل وکړِي دَ عدالت لايق به شِي ٢٢ مګر زه
تاسو ته وايم چه هر څوک چه خپل ورور تـــه قهـــر وکړِي
نو لايق دَ عدالت به شِي او هغه څوک چه خپل ورور ته راقا [يعني
سپک] ووائِي لايق دَ جرګي به شِي او که څوک اي احمقَ ووائِي لايق دَ

دَ غیر قومونو په لاري مه ځئِ او په هیڅ ښهر دَ سامِریانو کښں مه
ننوزئِ ٦ بلکه خاص دَ اسرائیلو دَ کور ورکو شوِیو ګډو ته ورشئِ ٦
٧ او په تلو تلو کښں وعظ کوئِ او وایئِ چه دَ آسمانونو بادشاهِي نژدي دَه ٧
٨ رنځوران جوړوئِ مړي ژوندِي کوئ کوړیان پاکوئ دیــوان وباسي ٨
تاسو وړیا موندلِي دِي وړیا ئي ورکوئِ ٩ په خپلو کمربندونو کښں ٩
نه سره زر او نه سپین زر او نه تانبـه اخلئِ ١٠ او دَ لاري دَپـارَ نه ١٠
توښـــهدان او نه دوه قمیصونه او نه څپلي او نه اَمسا اخلئِ ځکه چه
کارکونکيَ دَ خپل خوراک لایق دَي ١١ په هر ښهر یا کلِي کښں چه ننوزئِ ١١
نو پوښتنه وکړئِ چه دلته کښں څوک لایق دِي او دَ وتلو تر وقتَ پوري هلته
اوسئِ ١٢ او کور ته چه ورننوزئِ سلام پرِ واچوئِ ١٣ که چرِ کور لایق ١٢ ١٣
وِي نو سلام ستاسو دِ هغه ته ورسِي او که چري لایق نه وِي نو
ستاسو سلام دِ په تاسو را وګرزِي ١٤ او هغه څوک چه تاسو قبول نه کړِي ١٤
او خبري مو وانه ورِي نو چه له هغه کورَ یا له هغه ښهرَ بهر ووزئِ
نو ګرْد دَ پښو خپلو وڅنډئِ ١٥ زه تاسو ته رښتیا وایم چه دَ ١٥
عدالت په ورځ به حال دَ زمکي دَ سـدوم او دَ عمورا دَ هغه ښهر
له حالَ زیات آسان وِي
١٦ ګورئِ زه تاسو دَ ګډو په شان دَ لیوګانو په مینځ کښں استوم ١٦
پس دَ مارانو په شان هوښیار او دَ کوترو په شان ساده اوسئِ ١٧ او له ١٧
سړیو احتیاط کوئِ ځکه چه هغه به تاسو جرګو ته وسپارِي او په
خپلو جماعتونو کښں به مو په کوړو ووهِي ١٨ او تاسو به ځما په سبَب ١٨
دَ حاکمانو او دَ بادشاهانو په حضُور کښں بوتلي شئِ چه په دوي او په غیر
قومونو بانـدِ ګواهِي شِي ١٩ لیکن هرګاه چه تاسو وسپارِي نو په هغه ١٩
وقت کښں اندیښنه مه کوئِ چه مونږ څنګه یا څه ووایُو ځکه چه
هرڅه ویل چه وِي په هغه ساعت به تاسو ته درکړِي شِي ٢٠ ځکه چه ٢٠
ویونکِي تاسو نه یئِ بلکه ستاسو دَ پلار روح چه په تاسو کښں خبري

شول او هلته يُ هغو له شفا ورکړله
۳ ۳ او فرِيسيان دَ ازمايښت دَپارَ ور ته راغلل و يُ ويل چه
۴ سړِي له روا دِي چه له هره سببَ خپلي ښځيَ له طلاق ورکړِي څه؟ ۴ ده ځواب
ورکه ور ته و يُ ويل چه تاسي لوستي نه دِي چه خالق له اوّل نر او ښځه
۵ پيدا کړل ۵ او و يُ ويل چه دَدي په سببَ به سړِي پلار او مور خپل
پريږدِي او له خپلي ښځي سره به پيوند شِي او دواړه به سره يَوه غوښه
۶ شِي ۶ نو پس له دي دوي دوه نه دِي بلکه يَوه غوښه نو هغه چه
۷ خداي په جغ کړِي دِي سړِي دِ يُ بيل نه کړِي ۷ دوي وويل چه بيا مُوسىٰ
۸ دَ طلاق نامي په ورکولو او په پريښولو يُ ولي حکم ورکړ ۸ ده ور ته وو
چه ستاسي دَ سخت دلئ له سببَ مُوسيٰ په پريښيدلو ستاسي دَ ښځو
۹ اِجازت درکړ لېکن له اوّل دا رنګ نه وه ۹ مګر زه تاسي ته وايم چه
هر څوک چه خپله ښځه بي دَ زناکارئِ له سببَ پريږدِي او له بلي سره
نکاح وکړِي هغه زِنا کوِي او هغه څوک چه له طلاقي شوي سره نکاح
۱۰ وکړِي زِنا کوِي ۱۰ شاګردانو يُ ور ته وويل چه هر کله چه دَ سړِي حال
۱۱ له ښځي سره داسي دي نو نکاح کول بايده نه دِي ۱۱ نو ده هغو ته وويل
چه ټول دا خبره منلي نه شِي مګر هغه چه بخښنه ور ته شوي ده -
۱۲ ۱۲ ځکه چه ځني خصِي وِي چه دَ مور له نسَ داسي پيدا شوِي دِي او
ځني خصِي دي چه دَ سړو نه خصِي شوِي دِي او ځني خصِي دِي چه
دَ آسمانونو دَ بادشاهئِ دَپارَ يُ خپل ځان خصِي کړي دي هر څوک چه
تَوفيق دَ منلو لرِي و دِ مني
۱۳ ۱۳ هغه وقت يُ ځو هلکان ور ته راوستل تا چه خپل لاسونه
۱۴ په هغو کيږدِي او دُعا وکړِي شاګردانو يُ هغه ورټل ۱۴ مګر يسوع
ووِ چه هلکان را پريږدِيُ او ځما له راتلو يُ مه منع کوئِ ځکه چه
۱۵ بادشاهي دَ آسمانونو دَ دا رنګو دَه ۱۵ نو لاسونه يُ په هغو کيښودل او
له هغه ځايَ روان شه

۳۰ شي ۳۰ لیکن ډیر وړنبني دي چه ورستني به شي او ډیر ورستني دي چه
وړنبني به شي

# شلم باب

۱ ۱ ځکه چه بادشاهي دَ اسمانونو دَ هغه کور دَ خښتن په شان ده
چه دَ صبا په وقت کښ ووزي تا چه په خپل تاکستان کښ مزدوران
۲ ونیسي ۲ او چه ده له مزدورانو سره یو دَ ورځي دینار مقرر کړ خپل تاکستان
۳ ته ئي واستول ۳ بیا په دریم ساعت بهر لاړ نور بیکاره ولاړ ئي په
۴ بازار کښ ولیدل ۴ هغو ته ئي ووئیل چه تاسو هم تاکستان ته لاړ
۵ شئ او هغه چه حق وي تاسو ته به ئي درکړم هغه هم ورغلل ۵ بیا
په شپږم او په نهم ساعت کښ بهر لاړ او په هغه شان سره ئي
۶ وکړل ۶ او نژدې په یولسم ساعت بهر لاړ څو نور ئي بهر ولاړ وموندل
۷ ورته وئي ویل چه ولي ټوله ورځ دلته بیکاره ولاړ یئ ۷ دوي وو له
دي سبب چه چا مزدوران نه کړو ده ورته وو چه تاسو هم تاکستان
۸ ته لاړ شئ ۸ پس چه ماښام شه نو دَ تاکستان مالک خپل ناظر
ته وو چه مزدوران راوبوله له ورستنیو ئي شروع وکړه تر وړمبنیو
۹ پوري ئي مزدوري ورکړه ۹ نو چه دَ یولسم ساعت وال راغلل هر یوه
۱۰ یو یو دینار بیا موند ۱۰ او هرکله چه هغه وړمبني راغلل ګمان ئي وکړ
۱۱ چه موږ به زیات ومومو هغو هم هغه یو یو دینار وموند ۱۱ او چه
۱۲ وا ئي خستل نو دَ کور صاحب ته ئي ګله وکړه ۱۲ و ئي ویل چه دي ورستنیو
یو ساعت کار کړي دي او له موږ سره دِ برابر کړل چه دَ ورځي سختي
۱۳ او ګرمي مو وزغمله ۱۳ ده یو له هغو ته ځواب ورکړ ورته وئي ویل چه
اي عزیزه زه له تا سره ناحقي نه کوم تا په یو دینار له ما سره وعده
۱۴ کړي نه وه څه ؟ ۱۴ هر څه چه دِ کیږي وا ئي خله او ځه او ما لګه چه تا ته
۱۵ درکړل هومره به دي ورستنیو ته ورکوم ۱۵ او ما ته روا نه دي چه په
خپل مال سره هغه وکړم چه ئي غواړم ؟ یا ستا سترګه بده ده څه ؟

۳۶ دَ اَزمایلو دَپارَ ئې پوښتنه تر وکړه ۳۶ چه اي اُستاذ په توریت
۳۷ کښې کوم یَوحکم لوی دي ۳۷ نو ور ته ئې وفرِ دا چه خداوند خپل الله
سره په خپل ټول زړه او په خپل ټول ځان او په خپل ټول
۳۸ ۳۹ عقل مینه وکړه ۳۸ دا دي لوي او اَوّل حکم ۳۹ او دویم دَ هغه
په شان دا دي چه خپل گواندِي سره دَ خپل ځان په شان مِینه کوه
۴۰ ۴۰ په دي دوارو حکمونو بانڊِ ټول توریت او نبیان مُعَلّق دِي
۴۱ ۴۱ او چه فَرِیسِیَان سره ټول وُو نو یسوع پوښتنه تر وکړه و ئې
۴۲ ویل ۴۲ چه دَ مسیح په حق کښې تاسو څه گمان کوئِ چه دَچا ځوي دي
۴۳ دوي ور ته ووِ چه دَ داؤد ۴۳ نو ده ور ته ووِ چه داؤد په روح کښې
۴۴ څنگه ده ته خداوند وائِي چه ویل ئې ۴۴ چه

خداوند ځما خداوند ته وویل
چه ته ځما په ښي لاس کښینه
تر هغه پوري چه زه ستا دُښمنان ستا تر پښو لاندِ کیږدم

۴۵ ۴۵ پس چه داؤد خداوند ور ته وائِي نو دي څنگه دَ هغه ځوي دي
۴۶ او هیچا دَده دَ یَوي خبري دَ ځواب کولو توت نه لاره او نه له هغي
ورځي هیچا له ده نه بیا دَ هیڅ سوال کولو زړه ورتوب وکړ +

# درویشتم باب

۱ ۱ هغه وقت یسوع له ټولیو او له خپلو شاگردانو سره خبري کولي -
۲ ۲ و ئې ویل چه کاتبان او فَرِیسِیَان دَ مُوسیٰ په کُرسَئِ بانڊِ کښیني
۳ ۳ پس هرڅه چه هغوي تاسي ته وائِي هغه وکـــــــړئِ او و ئې
ساتِئ مگر دَدوي دَ کارونو په شان مه کوئِ له دي سبَبَ چه دوي وائِي
۴ او نه کوِي ۴ څکه چه دوي درانه او گران پیټي تړِي او دَ سړیو په اوږو
۵ ئې ږدِي مگر نه غوارِي چه په خپله گوته ئې وخوځوِي ۵ او خپل ټول
کارونه دَ سړیو دَ لیدلو دَپارَ کوِي څکه چه خپل تعویزونه پلنوِي او دَ
۶ خپلو جامو لمني اوږدوِي ۶ او په میلمستیا کښې اوچت ځایونه او په

وخوړي او يو بل ته به يې وسپاري او يو له بل سره به کينه وکړي ١١ او ١١
ډير دروغژن نبيان به پورته شي او ډير به گمراه کړي ١٢ او د بې دينۍ خوړيدو ١٢
له سبب به د ډيرو محبّت سوړ شي ١٣ ليکن هغه چه تر آخره پورې زغم ١٣
وکړي خلاص به شي ١٤ او دا انجيل د بادشاهۍ به په ټولي دُنيا کښ د ١٤
قومونو د گواهۍ دپاره وعظ شي پس له هغه به آخرت راشي
١٥ پس هرگاه چه تاسو د ويرانۍ نجس ځيز چه دانيال نبي يې ذکر ١٥
کړي دي په پاک ځاي کښ ولاړ ووينئ (لوستونکي دِ وپوهيږي) ١٦ نو هغه ١٦
وقت دِ هغه چه په يهوديه کښ وي غرونو ته دِ وتښتي ١٧ او هغه چه ١٧
په کوټه باندِ وي راکوز دِ نه شي د اسباب يستلو دپاره چه په کور کښ ١
يې وي ١٨ او هغه چه په پټي کښ وي د خپلي جُغي اخستلو دپاره ١٨
دِ بيرته و نه گرزي ١٩ مگر هئ په هغو باندِ چه حاملي او پيئ ورکونکي ١٩
وي په هغو ورځو کښ ٢٠ ليکن دُعا کوئ چه ستاسو تيښته په ژمي کښ ٢٠
يا د سبّت په ورځ و نه شي ٢١ ځکه چه په هغه وقت کښ به دارنگ ٢١
لوي مُصيبت وي چه له ابتدا د عالم تر اوسه پورې نه چري شوي دي او
نه به وشي ٢٢ او که چري هغه ورځي لنډي شوي نه وي نو هيڅ بشر به ٢٢
هم خلاصون موندلي نه وه مگر د غورو شويو په سبب به هغه ورځي
لنډي کړي شي ٢٣ نو که چري څوک درته ووايي چه گوره مسيح دلې دي يا ٢٣
هلته يمان پرِ مه راوړئ ٢٤ ځکه چه دروغژن مسيحان او دروغژن نبيان ٢٤
به پورته شي او لوي لنبي او کرامتونه به ښکاره کړي څوچه که ممکن وي نو
غوره شوي به يې هم گمراه کړي ووو ٢٥ گورئ ما وړاندِ خبر کړي يئ ٢٦ نو که ٢٥ ٢٦
چري هغه تاسي ته ووايي چه گوره په صحرا کښ دي نو بهر مه ورځئ گورئ
په کوټو کښ دي ايمان پرِ مه راوړئ ٢٧ ځکه لکه بريښنا چه له نمرخاته ٢٧
نه راووزي او تر نمرپرېواته پورې ځليږي هم هسي به راتله د ځوي د انسان
وشي ٢٨ هرچرته چه مُرداره وي هغه ځاي گرگسان جمع کيږي ٢٨
٢٩ او پس له هغو ورځو د مُصيبت به دستي نمر تياره شي ٢٩

ور ته وويل چه پس له يسوع سره چه مسيح باله شِي څه وكړم هغوي
٢٣ ټولو و ويـــل چه مَصلوُب دِ شِي ٢٣ هغه ورته وويل چه ولي څه
بد ئي كړي دي هغوي لا زيات شور ولګاوه و ئي ويل چه مَصلوُب دِ شِي
٢٤ ٢٤ چه پيلاطُسْ وليده چه هيڅ نه كيږي بلكه فساد زياتيږي نو اوبه ئي
واخستي او دَ خلقو په مخ كښ ئي لاسونه ووينځل او و ئي ويل چه زه
٢٥ دَدي صادق سړي له خونَ پاک يم تاسو وګورئ ٢٥ او ټولو خلقو ځواب
٢٦ ورکه و ئي ويل چه دَده خُون دِ په مونږ او ځمونږ په اولاد وِي ٢٦ نو دده
براب ا دوي ته پرينښود او يسوع ئي په كوړو وواهه او و ئي سپارد چه
مَصلوُب دِ شِي
٢٧ ٢٧ نو دَ حاكم سپاهيانُ يسوع دربار ته بوتَ او خيل ټولي
٢٨ ئي په ده باندِ جمع كړ ٢٨ او جامي ئي تري وويستلي قرمزي چوغه ئي ور
٢٩ واغوستله ٢٩ او له اغزو تاج ئي ووده ور په سرئي كړ او په ښي لاس كښ
ئي دورمه وركړه او دَده په مخ كښ زنګنونه و لګول ټوقي ئي ور پوري
٣٠ كولي او و ئي ويل چه اي بادشاه دَ يهُوّديانو سلام ٣٠ او په ده باندِ ئي
٣١ توک كړل او دورمه ئي تـرِ واخسته په سـر ئي وواهه ٣١ او چه
ټوقي ئي پرِ پوري وكړي نو چوغه ئي ترِ وايستله دَده خپلي جامي ئي ورواغوستولي
صَليب كولو ته ئي بهر بوت
٣٢ ٣٢ او چه دوي بهر راغلل نو يوَ قريني سړي چه شَمْعُونْ نُوم ئي وه
٣٣ و ئي موند او دَده دَ صَلِيب دَ وړلو دَپارَئي په بيګارِي ونيو ٣٣ او چه هغـه
٣٤ ځاي ته چه ګلګتا يعني دَ كريو ځاي باله شِي ورسيدل ٣٤ نو له ترخو
سره ګډ شراب ئي ده ته دَ څښلو دَپارَ وركړل او چه و ئي څكَل نو و ئي
٣٥ نـه څښـل ٣٥ او چه دي ئي په صَليب كړ نو دَده په جامو ئي هِسك
٣٦ واچاوه سره و ئي ويشلي ٣٦ او هغه ځاي ورته كښيناستل څارنه ئي كوله
٣٧ ٣٧ او دَده تَقصِيرنامه ئي وليكله دَده په سر دَپاسَ ئي ولګوله چه دا
٣٨ دي يسوع بادشاه دَ يهُوّديانو ٣٨ او له ده سره دوه غله هم په صَليب

٩ سرِي نه بهر راووزه ٩ بيا ده له هغه پوښتنه وکړه چه ستا نوم څه دي
١٠ هغه ورته ووِ چه ځما نُوم لجِيُونْ دي چه مونږ ډېر يُو ١٠ او ده ته ئي
١١ ډېري زارئِ وکړي چه له ملکَ مو ونه باسِي ١١ او په هغه ځاي دَ غره په
١٢ ډډه کښ يَوه ډېره لويه گله دَ سرکوزو څريدله ١٢ نو ده ته ئي زارِي وکړه و ئي
١٣ ويل چه هغو سرکوزو ته مو واستاوه چه په هغو کښ ننوزو ١٣ پس هغو
ته ئي اِجازت ورکړ او ناپاک رُوحُونه بهر لاړل په سرکوزو کښ ننوتل او
هغي گلي له لوړي نه درياب ته ځوکړ هغه قريب دوه زره وُو چه په درياب
١٤ کښ غرق شول ١٤ او څرونکي دَ هغو وتښتيدل او ښهر او ملک ته ئي خبر
١٥ ورساوه او هغوي دَ دي حال دَ ليدلو دَپارَ بهر را ووتل ١٥ هر کله چه يسوعَ
ته راغلل او هغه پليت رُوح نيولي چه لجِيُون ئي لرل ناست جامي ئي اغوستي او هوښيار
١٦ ئي وليد نو وويريدل ١٦ او هغو چه وليد شغه چه په پليت رُوح نيولي او په
١٧ سرکوزو باندِ تېر شول دوي ته ئي بيان کړ ١٧ پس هغوي ده ته په زارو لگيا شول چه
١٨ دَ هغوي له حدونو ووزِي ١٨ او هر کله چه بېړيِ ته وخوت نو هغه پليت رُوح نيولي سوال
١٩ ورته وکه چه له هغه سره وِي ١٩ مگر ده اِجازت ور نه که بلکه ورته و ئي ويل
چه ته خپل کور او خپلوانو ته لاړ شه او دوي خبر کړه چه خداوند څه درسره
٢٠ کړي دِي او څرنگه رحم ئي په تا کړي دي ٢٠ او هغه لاړ او په دَکاپُولس کښ په
وعظ کولو لگيا شه چه څرنگ يسوعَ ورسره کړِي وُو او ټولو تعجب وکړ
٢١ ٢١ او هرکله چه يسوعَ بيا په هغي بېړيِ کښ پوري شه نو يَو لوي ټولي
٢٢ په ده جمع شه او دي درياب ته نژدي وه ٢٢ او يَو دَ عبادت خاني له سردارانو
٢٣ چه جايرُ نوم ئي وه راغي چه دي ئي وليد نو په پښو ئي پريوت ٢٣ او په ډېرو
زارو سره ئي ورته وويل چه وړوکي لُور مِ په ځنکدن ده راشه او لاس دِ پر
٢٤ کېږده چه روغه شي او ژونديِ پاتي شي ٢٤ پس دي ور سره روان شه هم
يَو لوي ټولي ورپسي شه او په ده ئي هجوم راوړ
٢٥ ٢٦ ٢٥ او يَوه ښځه چه له دوولسو کالو ئي وِيني جارِي وِي ٢٦ او له ډېرو
طبيبانو ډېر ډيرلي وه او ټول خپل مال ئي خرڅ کړي وه او هيڅ فائده ئي مونديلي

٥ دِي لکه چه دَ پيالو او دَ تالکو او دَ مسينو لوښو وينځل ٥ نو فريسيانو او
کاتبانو له ده پوښتنه وکړه چه ستا شاګردان ولي دَ بزرګانو په روايت
٦ نه ګرزي بلکه په ناپاکو لاسو ډوډئ خوري ٦ او ده ور ته وويل چه اَشعيا
ستاسو دَ رياکارو په حق کښې څه ښه نبوّت کړي دي لکه چه ليکلي شوي
دي چه

دا قوم زما عِزّت په شونډو کوي
مګر زړه يې له ما نه لري دي
٧ ٧ دوي بي فائدي زما عِبادت کوي
ځکه چه هغه انساني رسمونه دَ فرضو په شان تعليم ورکوي

٨ ٩ ٨ تاسو حکم دَ اَلله ترک کوئ او دَ سړو روايت ټينګ نيسئ ٩ او ده ور ته
وويل چه تاسو حکم دَ الله په ښه شان سره باطلوئ دي دَ پاره چه خپل
١٠ روايت وساتئ ١٠ ولي چه موسیٰ ويلي دي چه دَ خپل پلار او مور عِزّت
١١ کوه او که څوک په پلار يا په مور بد ووايي هغه دِ قتل کړي شي ١١ مګر
تاسو وايئ چه که کوم سړي خپل پلار يا مور ته ووايي قربان يعني بخښنه
١٢ ده هغه څه چه تاسي ته له ما نه فائده وکړي شي ١٢ او هغه سړي نه پرېږدئ
١٣ چه له خپل پلار يا له مور سره څه وکړي ١٣ پس تاسو کلام دَ اَللّٰه
په خپل روايت سره چه جاري کړی مو دي باطل کوئ او دا رنګ ډېر کارونه
١٤ کوئ ١٤ بيا ده هغه ټولې راوبلله او ور ته وئې ويل چه تاسو ټول زما
١٥ واورئ او پوه شئ ١٥ داسي هيڅ نشته چه سړي ته له بهر ورننوزي دي ناپاک
کولي شي مګر هغه څيزونه چه له سړي نه بهر راوزي هم هغه سړي
١٧ ناپاکوي ١٧ او چه له هغه ټولي نه کور ته ننوت نو شاګردانو يې دَ هغه
١٨ متل په باب کښې پوښتنه تر وکړه ١٨ او دوي ته يې وويل چه تاسو
هم داسي بي پوهي يئ ګنړه تاسو نه پوهيږئ چه هر څه چه له بهر په سړي
١٩ کښې ننوزي ناپاک کولي يې نه شي ١٩ ځکه چه هغه دَ ده په زړه کښې نه ننوزي
بلکه دَ ده په ګيډه کښې او په چارچوبئ کښې پريوزي او ټول خواړه پاک

پوه شه ورته وئ ویل چه تاسو ولې دا فکر کوئ چه ډوډئ نه لرئ څه؟
لا تر اوسه نه ګڼرئ او نه پوهیږئ او ستاسو زړه سخت شوي دي څه؟ -
۱۸ ۱۸ سترګې لرئ او نه وینئ څه؟ او غوږونه لرئ او نه اورئ څه؟ او په یاد نه
۱۹ لرئ څه؟ ۱۹ هغه وخت چه پنځه ډوډئ مې په پنځو زرو ماتې کړې او څو ټوکرئ
۲۰ مو ډکې له ټوکړو واخستلې هغو ورته وویل دوولس ۲۰ او هغه وخت چه
اووه مې په څلورو زرو او څو شکورنه مو ډک له ټوکړو واخستلې هغو ورته
۲۱ وویل اووه ۲۱ او دوی ته ئې وویل چه نو ولې نه پوهیږئ
۲۲ ۲۲ دوی بیت صیدا ته راغله نو یو ړوند سړی ئې ورته راوست او
۲۳ زاري ئې ورته وکړه چه دا دې مسه کړي ۲۳ نو ده هغه ړوند تر لاس ونیو له
کلي ئې بهر بوت او په سترګو کښ ئې ور تو کړل او خپل لاسونه ئې پرې کېښول
۲۴ پوښتنه ئې ترې وکړه چه څه وینې ۲۴ هغه پورته وکتل و ئې ویل چه زه
۲۵ سړي وینم چه د ونې په شان تلونکي په نظر راځي ۲۵ او بیا ئې د هغه په
سترګو لاسونه کېښول نو هغه پاس وکتل جک جوړ شه او هر څه ئې څرګند
۲۶ ولیدل ۲۶ او ده هغه خپل کور ته واستاوه او و ئې ویل چه کلي ته
هم مه ننوزه
۲۷ ۲۷ او یسوع او شاګردان ئې د قیصریې د فلپي کلیو ته ووتل او په
لاري کښ ئې له خپلو شاګردانو نه پوښتنه وکړه و ئې ویل چه ما ته سړي څه
۲۸ وائي چه زه څوک یم ۲۸ دوی ځواب ورکه چه یوحنا بپتسما ورکونکي او ځنې
۲۹ الیاس او ځنې یو له نبیانو ۲۹ او ده له دوی پوښتنه وکړه چه تاسو ما ته څه
۳۰ وائئ چه زه څوک یم پطرس ځواب ورکه و ئې ویل چه ته مسیح ئې ۳۰ بیا هغوی
۳۱ ته ئې تاکید وکړ چه هیڅوک په ما مه خبروئ ۳۱ او هغو ته ئې په دې
تعلیم کولو شروع وکړه چه په ابن آدم لازم دي چه ډیر ډېر وزغمي او له
سپین ږیرو او له بزرګانو د کوهنانو او له کاتبانو نه رد کړي شي او وژلي
۳۲ شي او پس له دریو ورځو ژوندي پورته شي ۳۲ او ده دا خبره څرګنده کوله
۳۳ او پطرس دي ونیو په ترټلو ورته لګیا شه ۳۳ مګر دي وګرزیده او

چه کاتبان ولي وايي چه مسيح دَ داؤد ځوي دَي ٣٦ داود په خپله په رُوح القُدس ٣٦
کښې وويل چه

خداوند ځما خداوند ته وويل
چه ځما په ښي لاس کښينه
تر هغه پورې چه زه ستا دُښمنان ستا دَ پښو لاندِ تکيا کړم

٣٧ پس چه داؤد په خپله دۀ ته خداوند وايي نو څرنګه دَ هغه ځوي دي؟ او ٣٧
عامو تولِيو دَده خبرې په خوشحالئ سره اوريدله

٣٨ او ده په خپل تعليم کښې ور ته وويل چه له کاتبانو نه احتياط وکړئ ٣٨
ولي چه په اوږدو جامو کښې ګرزي او په بازارونو کښې تعظيمونه ٣٩ او په جماعتونو ٣٩
کښې اوّل ځايونه او په ميلمستيا اوله تکيه غواړي ٤٠ او چه کورونه دَ کونډو نغري او ٤٠
نمونځ په رياکارئ سره اوږدوي دوي به ډير زيات عدالت بياموي

٤١ او بَيتُ المال ته مخامخ ناست وه او کتل ئي چه څنګه په ٤١
بَيتُ المال کښې پيسي اچوي او ډيرو دولتمندو به ډيري په کښې اچولي ٤٢ او ٤٢
يوه غريبه کونډه راغله دوه دمړئ ئي په کښې واچول چه نيمه پيسه کيږي -
٤٣ ده خپل شاګردان راوبلل ور ته و ئي ويل چه زه تاسو ته رښتيا وايم چه ٤٣
دي کونډي غريبي له هغو ټولو نه چه په بَيتُ المال کښې ئي واچول زيات ئي
اچولي دي ٤٤ ځکه چه هغو ټولو له خپل ډيروالي نه واچول مګر دي له ٤٤
خپلي غريبئ نه هر څه چه ئي لرل وائچول يعني خپله ټوله روزي +

## ديارلسم باب

١ او چه له هيکله راووت نو يوه له شاګردانو ئي ور ته وويل چه اي ١
اُستاذه وګوره چه دلته څنګه کاڼي او څنګه عِمارتونه دي ٢ يسوع ور ته ٢
وويل چه تاسو دا لوي عِمارتونه وينئ خه؟ يو کاڼي به په بل کاڼي
پري نه ښودلي شي چه به ونه نړاوه شي

٣ او چه دي دَ زيتون په غره باندِ هيکل ته مخامخ ناست وه نو پطرس ٣
او يعقوب او يوحنّا او اندرياس له ده نه پټه پوښتنه وکړه ٤ چه موږ ته خبر ٤

که چرې هغه ورځې خداوند لنډې کړې نه وې نو هيڅ بشر به خلاص شوي نه
وه مگر د هغو غورو شويو په خاطر چه ده غوره کړي دي هغه ورځې يې
۲۱ لنډې کړې ۲۱ او که هغه وقت څوک تاسو ته ووايي چه گوره مسيح دلې يا
۲۲ گوره هورې دې مه يې منئ ۲۲ ځکه چه دروغژن مسيحيان او دروغژن نبيان
په پورته شي او دا نکه نښې او کرامات به ښکاره کړي چه که ممکن وي
۲۳ نو غوره شويو به هم گمراه کړي ۲۳ مگر تاسو خبردار شئ گورئ ما تاسو ته
دړې ټولو څيزونو خبر وړاندې درکړي دي

۲۴ ۲۴ ليکن په هغو ورځو کښې په پس له هغه بد نمر تياره شي او
۲۵ سپوږمۍ به خپله رڼا ورنه کړي ۲۵ او ستوري به له آسمان راپريوزي او
۲۶ قوتونه د آسمانونو به وخوځولې شي ۲۶ او هغه وقت به ابن آدم
۲۷ د لوي قدرت او له جلال سره په اوريځو راتلونکي ووينئ ۲۷ او هغه
وقت به خپلي فرښتې واستوي او خپل غوره شوي به له څلورو هواؤ د
زمکي له يوه حده د آسمان تر بله حده پورې سره راټول کړي

۲۸ ۲۸ پس تاسو د انځير د وني يو مثل زده کړئ هغه وقت چه ښاخونه
۲۹ يې نرم شي او پاڼې يې زرغونيږي نو تاسو پوهيږئ چه اوړې نژدې دې ۲۹ هم
هسې چه تاسو دا څيزونه کيدونې ووينئ نو پوه شئ چه هغه نژدې بلکه په
۳۰ دروازه دې ۳۰ زه تاسو ته رښتيا وايم چه دا پيړۍ به تيره نه شي څو چه
۳۱ دا څيزونه ونه شي ۳۱ آسمان او زمکه به لړې شي ليکن زما کلامونه به لړې
۳۲ نه شي ۳۲ او د هغې ورځې او د هغه ساعت په باب کښې هيڅوک خبر
۳۳ نه دي نه فرښته په آسمان کښې او نه ځوي بې له پلار ۳۳ خبردار
شئ بيدار اوسئ او دعا کوئ ځکه چه تاسو خبر نه يئ چه هغه وقت کله
۳۴ دي ۳۴ لکه يو مسافر سړي چه خپل کور پرېښود او خپلو غلامانو ته يې
اختيار ورکړ او هر يوه ته يې خپل خپل کار ورکه او دروان ته يې حکم ورکړ
۳۵ چه بيدار اوسه ۳۵ پس تاسو هم بيدار اوسئ ځکه چه تاسو خبر نه يئ
چه د کور خاوند به کله راشي په ماښام يا په نيمه شپه يا په چرگ بانگ

جسماني صورت سره دَ کوتري په شان پرې نازل شه او له آسمانَ يو آواز وشه
چه ته څما محبوب ځوي يې زه له تا نه ډير خوشحاليږم
۲۳ او چه يسوع پخپله شروع وکړه نو قريب دَ ديرشو کالو وه اوخلقو ۲۳
دَ يوسف ځوي ګاڼه چه ځوي دَ عيلي ۲۴ ځوي دَ متات ځوي دَ لاوِي ځوي دَ ملکِي ۲۴
ځوي دَ ينّي ځوي دَ يوسف ۲۵ ځوي دَ متتياه ځوي دَ اَموص ځوي دَ نحوم ۲۵
ځوي دَاسلِي ځوي دَ نکِي ۲۶ ځوي دَ ماعت ځوي دَ متتياه ځوي دَ سمعِي ۲۶
ځوي دَ يوسيخ ځوي دَ يُوداه ۲۷ ځوي دَ يوحنّا ځوي دَ ريسا ځوي دَ زروبابل ځوي ۲۷
دَ شاَلتئيل ځوي دَ نيرِي ۲۸ ځوي دَ ملکِي ځوي دَ اڈِي ځوي دَ قوسام ځوي ۲۸
دَ ايلمودام ځوي دَ عير ۲۹ ځوي دَ يسو ځوي دَ اليعاذر ځوي دَ يوريم ځوي ۲۹
دَ متات ځوي دَ لاوِي ۳۰ ځوي دَ شمعون ځوي دَ يهودا ځوي دَ يوسف ځوي ۳۰
دَ يونام ځوي دَ الياقيم ۳۱ ځوي دَ مليا ځوي دَ منّا ځوي دَ متتاه ځوي دَ ۳۱
ناتن ځوي دَ داؤد ۳۲ ځوي دَ يسِي ځوي دَ عبيد ځوي دَ بوعز ځوي دَ ۳۲
سلمون ځوي دَ نحشون ۳۳ ځوي دَ عميناداب ځوي دَ ارنِي ځوي دَ حصرون ۳۳
ځوي دَ فارص ځوي دَ يهودا ۳۴ ځوي دَ يعقوب ځوي دَ اسحاق ځوي دَ ۳۴
ابراهام ځوي دَ تارخ ځوي دَ ناحور ۳۵ ځوي دَ سروخ ځوي دَ رکو ځوي ۳۵
دَ فلک ځوي دَ عبر ځوي دَ سلح ۳۶ ځوي دَ قينان ځوي دَ ارفکساد ځوي دَ ۳۶
سِيم ځوي دَ نوح ځوي دَ لامک ۳۷ ځوي دَ متوسلح ځوي دَ حنوخ ځوي دَ ۳۷
يارد ځوي دَ مللئيل ځوي دَ قينان ۳۸ ځوي دَ انوس ځوي دَ شِيث ځوي ۳۸
دَ آدم ځوي دَ الله

# څلورم باب

۱ او يسوع له روح القدسَ ډک له اَردنَ وګرزيده او دَ روح په هدايت ۱
سره بيابان ته بوتلي شه ۲ او تر څلوينښتو ورځو پورې له ابليس نه ۲
ازميلي کيده او په هغو ورځو کښ ئې هيڅ نه خوړه او چه هغه ورځې تمامي
شوي نو وږي شه ۳ او ابليس ور ته ووئيل چه که ته دَ الله ځوي يې نو ۳
دي کاڼي ته ووايه چه ډوډي شي ۴ او يسوع ځواب ورکړ او ئې ووئيل چه ۴

چه دَنِښَلِي مور يواځي ځوي وه او هغه کونډه وه او ډېر خلق دَ ښهر ورسره
وه ۱۳ چه خداوند هغه وليده زړه ئې پرِ وسه او هغې ته ئې ووِ مه ۱۳
ژاړه ۱۴ او ورنږدي شه تابوت ئې مسه کړ او وړونکي ودريدل او دِه ووِيل ۱۴
اي ځوانه زه درته وايم پورته شه ۱۵ او مړي سم کښيناست په خبرو ۱۵
لګيا شه او مور ته ئې وسپاره ۱۶ نو ټول ويري ونيول او تمجيد دَ ۱۶
الله ئې کاوه او ويل ئې چه ځمونږ په مينځ کښ يو لوي پيغمبر پيدا شه او الله
په خپلو خلقو نظر وکړ ۱۷ او دا خبره دَ ده په ټوله يهوديه او په ټولو ۱۷
اطرافو کښ خوره شوه

۱۸ او دَ يوحنّا شاګردانو هغه له دي ټولو خبرو خبر کړ ۱۹ نو يوحنّا ۱۸ ۱۹
دوه تنه له خپلو شاګردانو نه راوبلل خداوند ته ئې واستول و ئې ويل چه
ته هغه راتلونکي ئې يا مونږ دَ بل چا انتظار کوو ۲۰ نو هغه سړي ورغلل ۲۰
ور ته و ئې ويل چه مونږ تا ته يوحنّا بپتسما ورکونکي رالېږلي يو وائي چه
ته ئې هغه راتلونکي که مونږ دَ بل چا انتظار کوو ۲۱ او په هغه ساعت ۲۱
ده ډېر له رنځونو او آفتونو او له بدو روحونو جوړ کړل او ډېرو ړندو ته ئې
بينائي وبخښله ۲۲ او ده ځواب ورکړ و ئې ويل چه لاړ شئ او هغه څه چه ۲۲
ليدلي او اوريدلي هو دِي يوحنّا پرِ خبر کړئ چه ړانده ويني ګډان ګرزي
کوړيان پاکيږي کاڼه اوري مړي پورته کيږي مسکينانو ته انجيل ورکيږي
۲۳ او مبارک هغه دي چه په ما کښ ټندک و نه خوري ۲۳

۲۴ او چه دَ يوحنّا استاځي لاړل نو ده دَ يوحنّا په باب خلقو ته ۲۴
په ويلو سر شه چه تاسو دُ څه ليدلو دَپارَ بيابان ته بهر تلي وئ دَ درمې دَپارَ
چه له باده خوځي څه؟ ۲۵ آيا تاسو دَ څه ليدلو دَپارَ بهر تلي وئ دَ يوه ۲۵
سړي دَپارَ چه مهيني جامي ئې اغوستي وي څه؟ ګوره هغوي چه په
ښلقه‌دنکو جامو او په عيش کښ ګذران کوي په بادشاهي
ماڼو کښ دِي ۲۶ آيا تاسو دَ څه ليدلو دَپارَ بهر تلي وئ دَ پيغمبر ۲۶
دَپارَ څه؟ هو زه تاسو ته وايم چه له پيغمبرنه هم لوئ ۲۷ دا هغه دي چه ۲۷

او دي به کاڼي ورکړي څه؟ او يا به کب او د کب په ځاي به مار ورکړي څه؟ ۱۲ ۱۲
ياهګۍ و غواړي لړم به ورکړي څه؟ ۱۳ نو تاسي چه بد يئ او په ورکولو د ښو ښو ۱۳
څيزونو خپل اولاد ته پوهيږئ نو څومره زيات به ستاسو پلار چه په آسمان
دي هغوي له چه غواړي روح القدس به ورکړي
۱۴ او ده يو ګنګ ديو وويسته او چه ديو ووت نو داسي وشول چه هغه ۱۴
ګنګ ګويا شه نو خلقو تعجب وکړ ۱۵ مګر څنو وويل چه دي ديوان په مددګارۍ د ۱۵
بعلزبول چه سردار د ديوانو دي وباسي ۱۶ او نورو د آزمينښت د پاره اسماني نخښه ۱۶
ورنه وغوښته ۱۷ مګر دي د هغو په خيالونو پوه شه او ورته وئې ويل چه ۱۷
هر بادشاهت چه په کور کښې سره مخالف شي هغه ويرانيږي او چه کور په کور
خلاف شي ويجاړيږي ۱۸ نو شيطان هم که په خپل کور کښې سره مخالف شي نو ۱۸
بادشاهت به ئې څرنګ قايم پاتي شي چه تاسي وايئ چه زه ديوان د بعلزبول
په مددګارۍ سره وباسم ۱۹ او که زه ديوان د بعلزبول په مدد سره وباسم نو ۱۹
ستاسو ځامن ئې د چا په مدد وباسي له دي سببه به هغوي په تاسو منصفان
شي ۲۰ مګر که زه ئې د الله په ګوتي سره وباسم نو بادشاهي د الله تاسو ته را ۲۰
رسيدلي ده ۲۱ هر کله چه زورور سړي وسله وتړي د خپل کور ساتنه کوي ۲۱
د هغه مال سلامت اوسي ۲۲ ليکن که هغه چه له هغه نه قوّت ناک دي ور ۲۲
ته راشي او دي مغلوب کړي نو هغه واړه وسله چه ده په هغي باور لاره ور نه
به ئې واخلي او لوټ به ئې وويشي ۲۳ هغه څوک چه له ما سره نه دي ۲۳
له ما نه مخالف دي او چه له ما سره ئې نه ټولوي خواره به ئې کړي -
۲۴ او هر کله چه پليت روح له سړي نه ووزي نو په وچو ځايونو د آرام ۲۴
لټولو د پاره ټيريږي او چه نه ئې مومي نو وايي چه خپل کور ته چه ور نه
را وتلي يم ور و به ګرزم ۲۵ او چه ورشي نو هغه جارو کړي او ښائسته ۲۵
و مومي ۲۶ نو لاړ شي اوه روحونه نور چه له هغه نه زيات بد دي را واخلي ۲۶
او په هغه ځاي کښې ننوزي په کښې اوسي او د هغه سړي ورستي حالونه
له ورنبيو نه بدتر شي

۱۱ کفر ووايي معاف به نه کړي شي ۱۱ او هر کله چه هغوي تاسو په
عبادتخانو کښې دَ حاکمانو او دَ اختيار لرونکو دَ وړاندِ بوزِي نو
انديښنه مه کوئ چه څرنګ يا څه ځواب به ورکړئ يا څه به ووايئ
۱۲ ۱۲ ځکه چه روح القدس به ئې په هغه ساعت در ته وښيي چه څه
ويل بايده دي
۱۳ ۱۳ او له ټولي نه يوه ور ته ووِ اي استاذه خما ورور ته
۱۴ ووايه چه له ما سره ميراث ووېشي ۱۴ نو ور ته ئې وويل اي سړيه
۱۵ چا زه په تاسو قاضي يا وېشونکي مقرر کړي يم ۱۵ هغوي ته ئې وويل
خبردار شئ او له هري طمعي نه ځان وساتئ ځکه چه دَ چا ژوند
۱۶ دَ هغه دَ مال په زياتوالي سره نه دي ۱۶ او ده هغوي ته يو مثال
۱۷ ووايه و ئې ويل چه دَ چا دولتمند پټي ډېر بارور شه ۱۷ او له خپل
ځان سره ئې فکر کاوه و ئې ويل چه څه وکړم چه ځاي نه لرم چه
۱۸ خپل حاصل په کښې انبار کړم ۱۸ نو و ئې ويل چه باري داسي به
وکړم چه خپلي انبارخانې به ونړوم او زياتي لوي به جوړي کړم او هلته به
۱۹ خپل ټول غلې او مال جمع کړم ۱۹ او خپل ځان ته به ووايم اي
ځانه تا څخه ډېر مال دَ ډېرو کالونو دَ پارَ کېښودلي شوي دي آرام کوه
۲۰ خوره څښه خوشحالي کوه ۲۰ مګر الله ور ته ووِ اي نادانه په دي شپې
کښې به ستا ځان له تا نه وغوښتلي شي نو هغه څېزونه چه تا
۲۱ تيار کړي دي دَ چا به شي ۲۱ هم هسي هغه دي چه دَ خپل ځان
دَ پارَ خزانه جمع کوي او دَ الله په نزد دولتمند نه دي
۲۲ ۲۲ او ده خپلو شاګردانو ته ووِ چه ځکه تاسو ته وايم چه دَ
خپل ژوندانه دَ پارَ انديښنه مه کوئ چه څه به خورئ او نه دَ جُسې
۲۳ دَ پارَ چه څه به اغوندئ ۲۳ ځکه چه ځان له خوراک نه بهتر دي
۲۴ او جُسه له پوشاک نه ۲۴ قارغانو ته غور وکړئ چه نه کري او نه ريبي
او نه کوټې نه انبار لري نو هم الله روزي ورکوي پس تاسو له

دَ سحر میلمستیا یا دَ نماښام طیاروي نو خپل دوستان یا خپل
ورونړه یا خپلوان یا دولتمند ګاونډیان مه رابوله هسي نه وِي چه هغوي
دِ هم طلب کړِي او بدله درکړي شِي ۱۳ بلکه هر کله چه ته میلمستیا ۱۳
وکړي مسکینان شلان ګډان ړانده را وه‌بوله ۱۴ او ته به مبارک شي ۱۴
ځکه چه هغوي تا ته عوض درکولي نه شِي مګر تا ته به دَ صادقانو په
قیامت کښ بدله درکړي شِي
۱۵ او یوه له هغو نه چه ورسره ناست وُو دا خبره واوریده ۱۵
ور ته وئ ویل مبارک هغه دي چه دَ الله په بادشاهئِ کښ به ډوډئِ
وخورِي ۱۶ او ده هغه ته وویل چه یوه سړِي دَ نماښام لویه میلمستیا ۱۶
وکړه او ډیر ئي وبلِل ۱۷ او دَ میلمستیا په وقت ئي خپل نوکران واستول ۱۷
چه بللِي شوِي خبر کړِي چه راځِي ځکه چه اوس هر څه طیار دِي ۱۸ او ۱۸
ټولو په اتفاق سره عذر کول شروع کړل ورمبي ور ته ووِ چه پټيَ مِ په
بیعه اخستيَ دَيَ او ضرور دِي چه ورشم او وئي وینم زه تا ته سوال
کوم چه معاف مِ کړه ۱۹ بل وویل چه پنځه جوړي غویان مِ په بیعه ۱۹
اخستِي دِي اوځم چه وئ آزمایم زه تا ته سوال کوم چه معاف مِ
کړه ۲۰ بل ووِ چه ما ښځه کړِي ده له دِ سببَ درتلي نه شم ۲۱ نو هغه غلام راغي ۲۰-۲۱
خپل خاوند ئي په دي خبرو خبر کړ هغه وقت دَ کور خاوند په قهر شه
او خپل غلام ته ئ وویل چه زر زر دَ ښهر پلنو لارو او کوڅو ته ووزه
او مسکینان او شلان ړانده او ګډان دلته را ننه‌باسه ۲۲ او غلام وویل ۲۲
اي خاونده لکه چه تا حکم وکړ هسي وشول نو هم ځاي شته ۲۳ خداوند ۲۳
غلام ته ووِ چه لارو او باندو ته ووزه او په زور سره خلق را ننه‌باسه
چه کور مِ ډک شِي ۲۴ ځکه چه زه تاسو ته وایم چه له هغو سړو نه چه ۲۴
بللِي شوِي دِي هیڅوک به څما میلمستیا و نه څکِي
۲۵ او له ده سره ډیر خلق تلل او هغوي ته ئي مخ ورو ګرزاوه ۲۵
وئي ویل ۲۶ چه که څوک ما ته راشِي او له خپل پلارَ او له مورَ او له ۲۶

٢١ څوک ورته وويل اي پلاره ما دَ آسمان او ستا په مخ خطا کړي ده ٢١
نو زه هيڅ لايق نه يم چه ستا ځوي وبللي شم ٢٢ مگر پلار ئي خپلو سريونو ٢٢
ته وويل چه زر له ټولو ښه پوشاک راوباسئ او ده ته ئي واغوندوئ
او گوته ور په لاس او څپلئ ور په پښو کړئ ٢٣ او څورب سخي راولئ ٢٣
حلال ئي کړئ چه وئي خورو او خوښي وکړو ٢٤ ځکه چه دا ځوي م مړ وه ٢٤
او بيا ژوندي شه ورک وه او بيا موندلي شه نو په خوښئ کولو سر شول
٢٥ او دَ هغه مشر ځوي په پټي کښ وه چه راغي او کور ته نژدي شه ٢٥
سرود او درزهار ئي واوريدل ٢٦ نو يو له نوکرانو نه ئي راوباله پوښتنه ٢٦
ئي تري وکړه چه دا څه دي ٢٧ هغه ورته ووِ چه دا ستا ورور راغلي دي ٢٧
او ستا پلار څورب سخي حلال کړي دي ځکه چه روغ جوړ ئي موندلي دي
٢٨ نو دي په قهر شه دائي ونه غوښته چه دننه ورشي نو پلار ئي ٢٨
بهر ور ووت دلاسه کاوه ئي ٢٩ او هغه په ځواب کښ خپل پلار ته ٢٩
وويل چه گوره زه دومره کاله ستا خدمت کوم او هيچري ستا له حکمه
غړيدلي نه يم او تا ما ته هيچري يو ورغومي راکړي نه دي چه له خپلو
يارانو سره خوښي وکړم ٣٠ او چه دا ځوي دِ راغلي دي چه ستا گذاره ٣٠
ئي له کنچنيو سره خوړلي ده څورب سخي دِ دَده دَپاره حلال کړ ٣١ ده ور ٣١
ته وويل اي هلکَه ته تل له ما سره يي او ټول څه چه څما دِي ستا دِي
٣٢ نو خوښي او ښادي کول لازم دِي ځکه چه دا ستا ورور مړ وه بيا ٣٢
ژوندي شه ورک وه او بيا موند شه +

## شپاړسم باب

١ او ده خپلو شاگردانو ته دا هم ووِ چه دَ يوه دولتمند سړي يو مختار ١
وه او خلقو دَ هغه په حق کښ ورته گله وکړه چه ستا مال الوزوي
٢ نو هغه ئي وباله ورته وئي ويل چه دا څه دِي چه زه ئي ستا په ٢
حق کښ اورم دَ خپلي مختاريئ حساب راکړه ځکه چه ته بيا مختار پاتي کيدلي
نه شي ٣ نو مختار له خپل ځان سره ووِ چه څه وکړم چه خاوند څما ٣

لاړ شه ٥١ او دي لا په کوزېدلو کښې وه چه مريونه ئې مخې ته راغلل و ئې ٥١
ويل چه زوي دِ ژوندي دَي ٥٢ بيا ئې له هغو نه پوښتنه وکړه چه په کوم ٥٢
ساعت کښې ئې صحت بياموند هغو ورته وويل چه پرُون په اوم ساعت تبې
پرېښود ٥٣ نو پلار ئې پوه شه چه هغه ساعت وه چه يسوع ورته ويلي ٥٣
وُوچه زوي دِ ژوندي دي او هغه په خپله او ټول ټبر ئې ايمان راوړ
٥٤ او دا دويمه معجزه وه چه يسوع وکړه هر کله چه له يَهُوديې نه جَلِيل ٥٤
ته راغي ❊

# پنځم باب

١ پس له دي خبرو پولختر دَ يَهُوديانو وَه او يسوع اورشليم ته وخوت ١
٢ او په اورشليم کښې دَ کډورِي دروازي څخه يَو حوض دي چه په ٢
عبراني کښې ورته بَيتِ حَسدا وايي چه پنځه دالانَ لري ٣ په هغو کښې يَو ٣
لوي ټولي دَ رنځورانُ دَ رَندو دَ گُډو دَ شلانو پروت وه ٥ او په هغه ځاي ٥
کښې يَو سړي وه چه له اته ديرشو کالو نه په خپل رنځ کښې پروت وه ٦ چه ٦
يسوع هغه سړي پروت وليد او پوه شه چه ډېره مده شوي ده چه په دي حال
وه ورته ئې وويل غواړي چه جوړ شي ٧ رنځور ځواب ورکړ اي خداونده زه ٧
څوک نه لرم هر وقت چه دا اوبه وخوزولي شي ما په حوض کښې واچوِي او څو
پوري چه زه په خپله ورشم بل څوک له ما نه وړاندِ ورښکته شي ٨ يسوع ٨
ورته وويل پاڅه او خپل کټ پورته کړه او وګرزه ٩ او په هغه ساعت ٩
هغه سړي جوړ شه او خپل کټ ئې پورته کړ او وګرزيده
١٠ او په هغه ورځ سَبَت وه له دي سببَ يَهُوديانو هغه ته چه جوړ ١٠
شوي وه وويل چه دا سَبَت دي تا ته روا نه دي چه خپل کټ پورته کړي ١١ هغه ١١
ځواب ورکړ و ئې ويل چه هغه چاچه زه ئې جوړ کړم هم هغه راته ويل چه خپل
کټ پورته کړه او وګرزه ١٢ نو پوښتنه ئې تِرِ وکړه هغه سړي څوک دي چه درته ئې ويلي ١٢
دِي چه خپل کټ پورته کړه او وګرزه ١٣ هغه سړي چه جوړ شوي وه نه ئې پېژاند ١٣
چه څوک دي ځکه چه يسوع غائب شه چه په هغه ځاي ټولي وه ١٤ پس له دي يسوع ١٤

پوښتنه ترې وکړه و ئې ویل اې اُستاذه چا خطا کړې ده دغه سړي که مور
۳ ده چه ړوند پیدا شوی دی ۳ یسوع ځواب ورکړ نه ده خطا کړې دې نه
۴ ده مور او پلار لیکن چه کارونه دَ الله په ده کښې ښکاره شي ۴ مونږ
ته ښائي چه ترهغه وقت پورې چه ورځ ده کارونه دَ هغه چاچه زه ئې
۵ رااستولی یم وکړو شپه راځي چه په کښې هیڅوک کار نه شي کولی ۵ ترهغه
۶ پورې چه په جهان کښې یم نُور دَجهان یم ۶ دا ئې وویل او په زمکه ئې وتوکل
۷ او په لاړو ئې خټه جوړه کړه او خټه ئې دَ هغه په سترګو پورې که ۷ او ورته و
ئې ویل لاړ شه او ولانبه په حوض دَ سلوام کښې چه ترجمه کړې شوي ئې استولی
۸ دی نو لاړ او ولانبیده او بینا راغي ۸ بیا همسایګانو او هغو چه دې ئې په ځوا
ړوند لیدلی وو وئې ویل چه کنړه دا هغه نه دی چه ناست به وه او سوال
۹ به ئې کاوه ۹ ځینو وویل چه دا هغه دی او نورو وویل نه مګر دَ هغه په شان
۱۰ دی ده وویل زه هغه یم ۱۰ هغو ورته وویل چه سترګې دې څرنګ پرانتلې شوې
۱۱ ۱۱ هغه وویل یو سړي چه یسوع بللې شي خټه ئې جوړه کړه او زما په سترګو ئې
پورې که او راته وئې ویل چه دَ سیلوام حوض ته لاړ شه ولانبه نو زه لاړم
۱۲ ولانبیدم او بینا شوم ۱۲ بیا ئې ورته وویل هغه چرته دی وئې ویل زه خبر
نه یم

۱۳ ۱۴ ۱۳ بیا هغه سړي چه ړوند وه فریسیانو ته ئې راوست ۱۴ او دَ سبّت
۱۵ ورځ وه چه یسوع خټه جوړه کړې وه او سترګې دَ هغه ئې پرانتلې وې ۱۵ نو بیا
فریسیانو هم ور نه پوښتنه وکړه چه څرنګ بینا شوې ورته ئې وویل هغه
۱۶ خټه زما په سترګو کښېښوه او ولانبیدم او بینا شوم ۱۶ نو ځینو له فریسیانو
نه وویل چه دا سړی له الله نه دی ځکه چه سبّت نه ساتي نورو وویل چه څرنګ
توانیږي چه خطاکار سړی داسې نښې وکړي بیا په هغو کښې اختلاف راغی -
۱۷ ۱۷ بیا هغه ړانده ته ئې هم وویل چه ته دَ هغه په باب کښې چه ستا سترګې
۱۸ ئې پرانتلې دي څه وائې وئې ویل نبي دی ۱۸ نو یهودیانو دَ ده په باب کښې ایمان
رانه وړ چه ړوند وه او بینا شه تر هغه پورې چه مور او پلار دَ هغه رانده

ور ته ئي وويل کنزه ته په اِبنَ الله باندِ ايمان راوړي څه؟ ۳۶ په ځواب ۳۵
کبنس ئي ورته وويل اي خداونده هغه څوک دَي چه زه پرِ ايمان راوړم-
۳۷ يسوع ورته وويل تا هم ليدلي دَي او هغه چه له تا سره خبري کوِي هم ۳۷
دغه دَي ۳۸ و ئي ويل اي خداونده ايمان مِ راوړ او سجده ئي ورته وکړه ۳۸
۳۹ يسوع ورته وويل چه زه دَ عدالت دَپارَ دي جهان ته راغلي يم تا چه ۳۹
هغوي چه نه وِيني ووِيني او هغه چه وِيني ړانده شِي ۴۰ او هغوي چه له ۴۰
فَرِيسيانو نه وُو واوريدل او ورته ئي وويل کنزه مونږ هم ړانده يو څه؟
۴۱ يسوع ورته وويل چه که تاسي ړانده وي نو خطاکار به نه وئِ ليکن ۴۱
اوس چه وائِ چه وِينو نو ستاسو خطا باقِي دَه ❊

# لسم باب

۱ زه تاسو ته رښتيا وايم چه هرڅوک چه دَ ګډو شپاله ته له ۱
دروازي نه نه ورننوزِي بلکه له بل طرف نه ورختِږي هغه غل او لوټيري دَي
۲ ليکن هغه څوک چه په دروازي ورننه وزِي دَ ګډو شپُون دَي ۳ دروانځي ۲ ۳
ور ته پرانزِي او ګډي دَده آواز اورِي او خپلي ګډي پخپل نوُم بولي او بهر
ته ئِ بيائِي ۴ او چه خپلي ګډي بهر ته وباسِي دَ هغو په مخ کبن ځِي او ۴
ګډي ورپسي ځِي ځکه چه آواز ئي پيژنِي ۵ او په پردي پسي نه ځِي بَلکه ور ۵
نه تښتِي ځکه چه آواز دَ پرديو نه پيژنِي ۶ يسوع دا متل هغو ته ووِ ۶
ليکن دوي به هغه خبره پوه نه شول چه دوئ ته ئي وويل
۷ بيا يسوع دوباره ور ته ووِ چه زه تاسو ته رښتيا وايم ۷
چه زه دروازه دَ ګډو يم ۸ هغه ټوِل کسان چه تر ما وړاندِ راغلي وو ۸
غلهٔ او لوټيريان دِي ليکن ګډو دَ هغو وانه وريدل ۹ زه دروازه يم که څوک ۹
زما په وسِيله ننوزِي نجات به بيامومِي او دننه به ځِي او بهر به راوزِي
او څرِاګاه به بيامومي ۱۰ غَل نه راځِي مګر چه غلا وکړِي او ووژلِي او برباد کړِي ۱۰
زه راغلي يم تاچه هغوي ژوندون بيامومِي مګر ډيرزيات بيامومِي ۱۱ زه ښه ۱۱
شپُون يم ښه شپُون دَ ګډو دَپارَ خپل ځان ورکوِي ۱۲ هغه چه مزدور ۱۲

۳۳ کويِ ۳۳ یهُودیانو وله ځواب ورکړ دَ ښه کار دَپارَ دِ نه سنګسار کوو بلکه
۳۴ دَپارَ دَ کُفر او دَدي دَپارَ چه ته انسان يي اوځان اَللّٰه جوړوي ۳۴ یسوع
وله ځواب ورکړ کنړه ستاسو په توریت کښ لیکلي نه دِي څه ؟ چه ما وويل
۳۵ تاسو خدایان يئِ ۳۵ که ئي هغو ته خدایان وويل چه کلام دَ اَللّٰه وله راغلي
۳۶ وه (او ممکن نه دِي چه صحیفې منسوخي کړي شي) ۳۶ کنړه تاسو دَهغه په باب کښ
چه اَللّٰه تَقدِیس کړي او جهان ته ئي رالَاستولي دي وايئ چه کُفر وايي ځکه چه ما
۳۷ وويل چه زه اِبنُ اَللّٰه يم ۳۷ که زه کارونه دَ خپل پلار نه کوم په ما ایمان مه راوړئ
۳۸ ۳۸ او که زه ئي کوم اګرچه په ما ایمان نه راوړئِ په کارونو ایمان راوړئِ
تاچه پوه شيءِ او یقین وکړيِ چه پلار په ما کښ دَي او زه په پلار کښ -
۳۹ ۳۹ نو بیا ئي و لټاوه چه وئي نیسي لیکن دَ هغو له لاس نه ووت
۴۰ ۴۰ بیا پوري دَ اَرْدَنّ هغه ځاي ته چه یُوحَنّا وړاندِ بپتسما ورکوله
۴۱ لاړ او هلته پاتي شه ۴۱ ډیر خلق وله راغلل و ئي ويل چه یُوحَنّا هیڅ
نخښه و نه کړه لیکن هرڅه چه یُوحَنّا دَده په حق ویلي وُو رښتیا
۴۲ وُو ۴۲ او ډیرو خلقو هلته په ده ایمان راوړ ÷

## یولسم باب

۱ ۱ او يَو سړي ناجوړَوه لَعَاذَرْ دَ بَیتِ عِنْیاه چه کلي دَ مریمي او دَده دَ خور
۲ مَرتا وُه ۲ او مریمه هغه وَه چه په خداوند ئي عَطَرْ صنبلي وُو او پښي
۳ ئي په خپلو ویښتوَ پاکي کړي وي دَ هغي وړور لَعَاذَرْ ناجوړَوه ۳ نو دَ هغه
خوَیندو ور واستاوه او و ئي ويل اي خداونده ګوره هغه څوک چه ته ورسره
۴ مِینه لري ناجوړَ دَي ۴ چه یسوع واوریده و ئي ويل چه دا رنځ دَ مرګ نه دَي
۵ بلکه دَ اَللّٰه دَ جلال دَپارَ دَي چه اِبنُ اَللّٰه دَده په سبَبْ جلال بیاموِي ۵ او
۶ یسوع له مَرتا او دَدي له خور او له لَعَاذَرْ سره مِینه لرله ۶ بیا چه وائي ویده
۷ چه ناجوړَ دَي نو دوه ورځي په هغه ځايْ کښ چه وه پاتي شه ۷ پس له
۸ دي خپلو شاګردانو ته ئي وويل چه بیا دِ یَهُودِیې ته لاړ شُو ۸ شاګردانو ور
ته ووِ اي اُستاذه یَهُودیانو اوس غوښتل چه تا سنګسار کړي او ته هغه

او پلار په ما کښي دا خبري چه زه تاسي ته وېيم له ځانه نه وايم بلکه پلار
چه په ما کښي اوسي هغه دا کارونه کوي ۱۱ په ما ايمان راوړئ چه زه په پلار ۱۱
کښي يم او پلار په ما کښي او که نه په سبب دَ دي کارونو په ما ايمان راوړئ
۱۲ زه تاسو ته رښتيا وايم چه هغه څوک چه په ما ايمان راوړي دا ۱۲
کارونه چه زه کوم هغه به ئې هم وکاندِ بلکه تر دي لوئ به هم وکاندِ ځکه چه
زه خپل پلار ته ځم ۱۳ او څه چه ځما به نوُم را نه وغواړئ نو هغه به زه وکړم ۱۳
تا چه پلار په زوي کښي جلال بيامومي ۱۴ که څه ځما په نوُم را نه وغواړئ نو ۱۴
هغه به زه کوم ۱۵ که تاسي راسره مينه لرئ نو حکمونه ځما وساتئ ۱۶ او زه به ۱۵ ۱۶
له پلاره سوال وکړم او هغه به بل پارَاقليط درکړي چه ترابده به له
تاسو سره وي ۱۷ يعني رُوح دَ رښتيا چه جهان ئې قبلولي نه شي ځکه چه نه ۱۷
ئې وينې او نه ئې پېژني ليکن تاسو ئې پېژنئ ځکه چه له تاسو سره اوسي او په
تاسو کښي به وي ۱۸ زه به تاسو يتيمان پرې نږدم تاسو ته راځم ۱۹ لږ وقت نور ۱۸ ۱۹
او جهان به مې بيا و نه وينې ليکن تاسي به ما وينئ ځکه چه زه ژوندي يم
تاسي به هم ژوندي يئ ۲۰ په هغه ورځ به تاسي پوه شئ چه زه په خپل پلار ۲۰
کښي يم او تاسي په ما کښي او زه په تاسي کښي ۲۱ هغه څوک چه ځما حکمونه ۲۱
لري او ساتي ئې هغه دَي چه له ما سره مينه لري او هغه څوک چه له ما
سره مينه لري پلار به مې ورسره مينه وکړي او زه به ورسره مينه لرم او
ځان به ور ته ظاهر کړم ۲۲ يَهُودا (نه اِسقَريوطي) ور ته ووِ اي خداونده څرنګ ۲۲
دَي چه ته به خپل ځان را ته ښکاره کړي او نه جهان ته ۲۳ يسوع په ځواب ۲۳
کښي ور ته ووِ که څوک له ما سره مينه لري ځما کلام به وساتي او ځما پلار به
ورسره مينه لري او مونږ به وله راځو او ورسره به تکاوُ شو ۲۴ هغه څوک چه ۲۴
له ما سره مينه نه لري ځما خبري نه ساتي او دا کلام چه اورئ ځما نه دَي بلکه دَ
پلار دَي چه زه ئې را اَستولي يم

۲۵ دا خبري مې تاسو ته دويلي چه له تاسو سره اوسيدم ۲۶ مګر ۲۵ ۲۶
پارَاقليط يعني رُوحُ القُدُس چه پلار به ځما په نوُم را واستوِي هر څه به تاسو

حکمونه ساتلي دِي او دَده په مِینه کښ اوسم
۱۱ دا خبري مِې تاسو ته ویلي دِي تاچه خما خوشحالِي په تاسوکښ وِي ۱۱
او ستاسو خوشحالِي پوره شِي ۱۲ حکم خما دادَي چه تاسي یَوله بله مِینه ۱۲
لرِئِ لکه چه ما له تاسو سره مِینه کړِي دَه ۱۳ له دي زیاتَ مِینه هیڅوک ۱۳
نه لرِي چه څوک خپل ځان دَ خپلو دوستانو دَپارَ ورکاندِ ۱۴ تاسي خما ۱۴
دوستان یِئِ که هرڅه چه تاسو ته حکم کوم هغه وکړِئِ ۱۵ پس له دي تاسوته مِرِونه ۱۵
نه وایم ځکه چه مرِيي نه پوهیږِي چه خاوند ئِي څه کوِي بلکه تاسوم دوستان
بللِي یِئِ ځکه چه هرڅه چه مِ له خپل پلار نه واورېده تاسوم پرِخبر کړِئِ
۱۶ تاسو زه غوره کړِي نه یِم بلکه ما تاسي غوره کړِي یِئِ او تاسي مِ مقرر ۱۶
کړِي یِئِ چه لاړ شِئِ او میوه راوړِئِ او ستاسي میوه قایِم شِي تاچه هرڅه
چه له پلاره خما په نوُم وغوارِئِ تاسو ته به ئِي درکړِي ۱۷ زه تاسو ته داحکم ۱۷
کوم چه تاسو یَوله بله مِینه کوِئِ ۱۸ که جهان له تاسو سره کِینه کوِي نو تاسي ۱۸
پوهیږِئِ چه ورانِدِ له تاسو ئِي له ما سره کِینه کړِي دَه ۱۹ که تاسو دَ جهانِ وِي ۱۹
نو جهان له خپلو خپلوانو سره مِینه لرِي لیکن ځکه چه تاسي دَ جهان نه یِئِ
بلکه ما تاسو له جهانه غوره کړِي یِئِ له دي سببَ جهان له تاسوسره کِینه
لرِي ۲۰ هغه کلام چه ما درته ووایه یاد ئِي کړِئِ چه مرِيي له خپل خاوند نه لوي ۲۰
نه دَي که زه ئِي آزار کړم نو تاسو به هم آزار کړِي که خما کلام ئِي ساتلي وي
نو ستاسو به هم وساتِي ۲۱ لیکن دوي به دا دواړه کارونه خما دَ نوُم په سببَ ۲۱
در سره وکړِي ځکه چه هغه څوک چه زه ئِي رااَستولي یِم نه ئِي پیژنِي ۲۲ که ۲۲
زه راغلي نه وي او خبري مِ ورسره کړِي نه وي نو دوي به خطاکار نه وُو
لیکن اوس دَ خپلي خطا دَپارَ هیڅ عُذر نه لرِي ۲۳ هغه څوک چه له ما سره ۲۳
کِینه لرِي له پلاره سره مِ هم کِینه لرِي ۲۴ که ما په دوي کښ هغه کارونه ۲۴
کړِي نه وي چه بل هیچا کړِي نه دِي نو خطا به ئِي نه وَه لیکن اوس ئِي ولیدل
او له ما سره او هم خما له پلاره سره ئِي کِینه ولرله ۲۵ لیکن دي دَپارَ چه ۲۵
هغه کلام چه دَدوي په توریت کښ لیکلَي دَي پوره شِي چه له ما سره ئِي بي سببه کِینه

۱۷ ۱۷ ځینو دَده له شاګردانو یَوله بله ووِیل چه دا څه دِي چه مونږ ته وايي
چه لږه مُوده به مِ ونه وِینئِ او بیا لږه مُوده به مِ ووِینئِ او چه پلار
۱۸ ته ځم ۱۸ بیا ئي ووِیل چه دا څه دِي چه وايي په لږي مُدي نه پوهیږو چه څه
۱۹ وايي ۱۹ نو یسوع پوه شه چه دوي غوارِي چه وئي پوښتِي او ور ته ئي ووِیل
چه په دي خبره کښ یَوله بله تفحص کوي څه ؟ چه ومِ ویل لږه مُده او تاسو
۲۰ مِ نه وِینئِ او بیا لږه مده او تاسو به مِ ووِینئِ ۲۰ زه تاسو ته ربښتیا ربښتیا
وایم چه تاسي به وژارئِ او وِیر به وکړئِ لیکن جهان به خوشحالیږي تاسي به
۲۱ غمجن یئِ لیکن ستاسي غم به په خوشحالئِ بدل کړي شي ۲۱ په ښځه چه درد
دَلنګانه راشي غمجنه کیږي له دي سببَ چه ساعت ئي راغلي دي لیکن هر کله چه
هلک راوړِي بیا ئي زحمت په یاد نه وِي دَ خوشحالئِ په سببَ چه سړي په
۲۲ جهان کښ پیدا شوي دَي ۲۲ تاسي هم هسي اوس غم لرئِ لیکن زه به تاسو
بیا ووِینم او ستاسو زړه به خوشحالَ شي او ستاسو خوشحالِي به هیڅوک در نه
۲۳ وانه خلِي ۲۳ او هغه ورځ به له ما نه هیڅ پوښتنه ونه کړئِ زه تاسو ته
ربښتیا ربښتیا وایم که تاسو له پلاره څه سوال وکړئِ هغه به ئي ځما په نُوم
۲۴ درکاندِ ۲۴ تر اوسَ پوري تاسو ځما په نوم هیڅ څیز سوال کړي نه دَي سوال
وکړئِ او تاسو به ئي بیامومئِ چه ستاسو خوشحالِي پوره شي
۲۵ ۲۵ دا خبري مِ تاسو ته په متلونو کښ ووِیلي ساعت راځي چه
نور به په متلونو کښ له تاسو سره خبري ونه کړم بلکه په ظاهره به دَ
۲۶ پلار په باب کښ خبري وکړم ۲۶ هغه ورځ به تاسي ځما په نُوم سوال وکړئِ او
زه تاسو ته نه وایم چه زه ستاسو دَپارَ له پلار نه وغواړم ۲۷ ځکه چه پلار
په خپله له تاسو سره مِینه کوِي له دي سببَ چه تاسو راسره مِینه کړي دَه
۲۸ او ایمان مو راوړي دَي چه زه له پلارَ راووتم ۲۸ له پلارَ راووتم او جهان ته
۲۹ راغلم بیا جهان پرِیږدم او پلار ته ځم ۲۹ شاګردانو ئي ور ته ووِیل ګوره اوس
۳۰ ښکاره خبري کوي او هیڅ متل نه وايي ۳۰ اوس پوهٔ شولُو چه ته په هر څه
پوهیږي او حاجت نه لري چه څوک له تا نه پوښتنه وکړي او په دغه مونږ ایمان

چه دروازي دَ هغه ځاي چه شاګردان ئي په کښ وُو له وېرې دَ يهُودِيانو
بندي شوي وي يسوع راغي او په مينځ کښ ودرېده او ورته ئې ووِ
چه اَلسَّلامُ عَلَيكُمْ ۲۰ او چه داسي ئي ووِ لاس او اَړخ خپل ئي هغو ته ۲۰
ښکاره کړه نو چه شاګردانو خداوند وليده خوشحال شول ۲۱ يسوع بيا ور ۲۱
ته ووِ چه اَلسَّلامُ عَلَيكُمْ لکه چه زه پلار را واستولم زه هم تاسو اَستوم
۲۲ او چه دا ئي ووِ نو په هغو ئي دَم پوه کړ او ور ته ئي ووېل چه ۲۲
رُوحُ القُدُس واخلئ ۲۳ دَ هر چا ګُناهونه چه تاسي عفوه کړئ هغوته عفوه ۲۳
کړي شوي دِي دَ هر چا ګُناهونه چه تاسي وساتئ نو ساتلي شوي دِي
۲۴ او تُوما چه يَو له هغو دولسو وه چه دِدُمُس ور ته ويلي ۲۴
شه هغه وقت چه يسوع راغي له هغو سره نه وه ۲۵ بيا نورو شاګردانو ۲۵
ور ته ووېل چه مونږ خداوند ليدلي دَي ده هغو ته ووېل څو چه زه
ښخښي دَ ميخُونو دَده په لاسونو کښ و نه وينم او زه خپلي ګوتي دَ ميخُونو
په ښخښه کښ کښي نه ږدم او دَ هغه په اَړخ کښ خپل لاس کښي نه ږدم
ايمان به را نه وړم
۲۶ او پس له اَتو ورځو شاګردان بيا دننه وُو او تُوما ورسره ۲۶
وه او دروازي بندي وي يسوع راغي او په مينځ کښ ودرېده و ئي ويل
اَلسَّلامُ عَلَيكُمْ ۲۷ بيا تُوما ته ئي ووېل خپله ګوته را نژدي کړه او ځما ۲۷
لاسونه وګوره او خپل لاس را نژدي کړه او ځما په اَړخ ئي کيږده او
بي ايمانَ مه شه بلکه ايماندار ۲۸ تُوما په ځواب کښ ور ته ۲۸
ووِ اي ځما خداونده او اي ځما اَلله ۲۹ يسوع ور ته ووېل چه زه دِ وليدم ۲۹
ايمان دِ راوړ مبارک هغوي دِي چه نه وِيني او ايمان ئي راوړ
۳۰ او يسوع نوري ډېري ښخښي دَ شاګردانو دَ وړاندِ وکړي چه په دي ۳۰
کتاب کښ ليکلي شوي نه دِي ليکن دا څيزونه ليکلي شوي دِي تا چه
ايمان راوړئ چه يسوع مسيح اِبنُ اللهَ دَي او په ايمان راوړو سره به
ابدي ژوندون بياموئ ❖

۲۵ چه دي پرِي ښوِلي پاتيِ شيِ ۲۵ ځکه چه داؤد دَده په حق کښ وايي چه
ما تل خداوند دَ وړاندِ خپل وليد
چه په ښي لاس ځما دي تاچه و نه خوځيږم
۲۶ ۲۶ دي دپارَ مِ زړه خوشحال شه او ژبي مِ ښادِي وکړه
بلکه جُسَّه ځما به هم په اميد کښ سکونت وکړي
۲۷ ۲۷ ځکه چه ته به ځان ځما په هادِيز کښ پرِي نه بدِي
او اذن به ورنه کړي چه قُدّوس ستا سخاوالي ووِينِي
۲۸ ۲۸ تا دَ ژوندانه لاري راوښيلي
او زه دِ له خپل مخ نه په خوښيِ ډک کړم
۲۹ ۲۹ اي سړو ورونړو بائده دِي چه تاسو ته له رئيسه دَ پلرونو دَ داؤد
په باب په دلاوريِ سره ووايلي شِي چه هغه وفات شه او ښخ کړي شه
۳۰ او قبر يِ تر ننِ ورځي پوري ځموږ په مينځ کښ دي ۳۰ نوچه دي نبي وه
او پوه شه چه الله ده ته قسم خوړلي دي چه له ميوي دَ ملا دَده نه به
۳۱ په تخت دَده کښينوِي ۳۱ هغه له وړاندِ نه وليدل دَ مسيح دَ قيامت په
باب يِ وويل چه نه دَده ځان په هادِيز کښ پرِيښودلي شه او نه جُسّي
۳۲ دَده سخا کيدل وليدل ۳۲ نو دغه يسوع الله له مړو نه پاڅاوه او موږ
۳۳ ټول پرِ شاهدان يُو ۳۳ او چه په ښي لاس دَ الله پورته کړي شه او
وعده دَ رُوحُ القدس يِ له پلاره بيامونده نو دغه چه تاسي يِ ګوريِ او
۳۴ اوريِ نوي کړي يِ دي ۳۴ ځکه چه داؤد آسمان ته و نه خوت ليکن پخپله
وايي چه
خداوند ځما خداوند ته ووِ چه ته ځما په ښي لاس کښينه
۳۵ ۳۵ ترهغه پوريِ چه زه ستا دښمنان ستا دَ پښو لاندِ يستونکي کړم
۳۶ ۳۶ نو په يقين سره دِ ټول کور دَ اسرائيل پوه شِي چه الله هم دغه يسوع
چه تاسو په صليب کړ خداوند او مسيح يِ کړ
۳۷ ۳۷ نوچه هغوي واوريدل نو زړه يِ سوري شه او پطرُسَ او نورو

تيښته وکړه او دَ مديان په زمکه کښ مسافر شه .او هلته يي دوه ځامن
۳۰ پيدا شول ۳۰ او چه څلويښت کاله پوره شول دَ سينا دَ غره په بيابان
کښ فرښته دَ خداوند په لمبه کښ دَ اورپه بوټي کښ ورته ظاهره شوه
۳۱ ۳۱ او چه موسیٰ دا وليدله نو له ننداري ئي تعجب وکړ او چه نژدي ورغي چه
۳۲ و ئي ګوري دَ خداوند آواز ورته وشه ۳۲ چه زه يم الله دَ پلرونو ستا
الله دَ ابراهام او دَ اسحاق او دَ يعقوب او موسیٰ ولړزيده او زړه ورتوب
۳۳ ئي و نه کړ چه ورته وګوري ۳۳ خداوند ده ته وويل چه څپلي له پښو
۳۴ خپلو وباسه ځکه چه دغه ځاي چه پر ولاړ يي مقدسه زمکه ده ۳۴ ما
دَ خپلو خلقو مشقت هغه چه په مصر کښ دِي وليد او دَ هغو ژړا مِ
واوريده او دَ هغو دَ آزادولو دَپارَ راکوز شوم او اوس راشه چه مصرته دِ
۳۵ واستوم ۳۵ دا موسیٰ چه له هغه نه سنکر شول و ئي ويل چه ته په مونږ
چا حاکم او قاضي کړي يي هغه الله دَ هغو حاکم او خلاصونکي استولي دي
۳۶ په لاس د هغي فرښتي چه په بوټي کښ پري ظاهره شوه ۳۶ ده هغوي و
ويستل چه څلويښت کاله ئي دَ مصر په زمکه او په بحر احمر او په بيابان
۳۷ کښ عجائبات او نخښي کولي ۳۷ دا هغه موسیٰ دي چه بني‌اسرائيلو ته ئي
وويل چه الله به يو نبي ځما په شان ستاسو دَ ورونړو له مينځ پاڅوي
۳۸ ۳۸ دا هغه دي چه په جماعت کښ په بيابان کښ له هغي فرښتي سره وُه
چه دَ سينا په غره کښ ئي خبري ورسره کولي او ځمونږ له پلرونو سره چه
۳۹ ژوندَي خبري ئي بياموندلي تاچه مونږ ته ئي راکړي ۳۹ هغه له چه ځمونږ
پلرونو و نه غوښتل چه تابعدار ئي شي بلکه رد ئي کړاو په زړونوخپلو مصر
۴۰ ته وګرزيدل ۴۰ هارون ته ئي ووِ چه ته ځمونږ دَپارَ خدايان جوړکړه چه
ځمونږ دَ وړاندِ به تلل کوِي ځکه چه دغه موسیٰ چه مونږ ئي دَ مصر له زمکي
۴۱ راويستلو نه پوهيږو چه ور سره څه وشول ۴۱ نو په هغو ورځو کښ ئي
يو سخي جوړ کړ او دَ دغه بت دَپارَ ئي قرباني راوړه او دَ خپلو لاسونو په عملونو
۴۲ ئي خوشحالي کوله ۴۲ نو الله و جاروت او دوي ئي پريښول تاچه لښکرِو دَ

چه بِینا شِي ١٣ حنانیا ځواب ورکړ چه اي خداونده له ډیرو دَدي سړي په ١٣
باب اوریدلي دِي چه په اورشلیم کښ ستا په مُقَدَّسانو څومره بدي ئي
کړي دِي ١٤ او دلته هم له سردار کوهینانو قدرت لري چه هغه ټول چه ١٤
ستا نُوم اَخلِي بند ئي کړِيَ ١٥ خداوند ورته وویل لاړ شه چه دا څما غوره ١٥
کړي لوښي دي تاچه نُوم څما په وړاندِ دَ قومُونو او دَ بادشاهانو او دَ بني‌اسرائیلو
یوسي ١٦ څکه چه زه به ئي ورښکاره کړم چه څومره زحمتونه څما دَ نُوم دَپارَه ١٦
زغمل بایده دِي ١٧ نو حَنَّانِیا لاړ او کور ته ننه وت او په هغه ئي لاسُونه کیښول ١٧
و ئې ویل چه اي ساؤلَ وروره هغه خداوند یسوع چه ستا دَ راتلو په لاري
درته ظاهر شه راواستولم تاچه بِینا شي او له رُوحَ اَلقُدُسَ ډک شِي
١٨ او دستِي ئي له سترګو نه په شان دَ پوست پریووت بِینا شه او پورته شه ١٨
بپتسما ئي واخسته ١٩ او ډوډئِ وخوړه اوقوّت ئي بیاموند ١٩
او څو ورځي په دَمِشق کښ له شاګردانو سره پاتي شه ٢٠ او دستِي ٢٠
ئي په جماعتونو کښ دَ یسوع وعظ کاوه چه هغه زوي دَ الله دَي ٢١ او ٢١
ټول اوریدونکي حیران شوِي ویل ئي چه کنږه دا هغه څوک نه دي چه په
اورشلیم کښ ئي هغه کسان هلاکول چه دا نُوم به ئي اخسته او دلته دي
دَپارَ راغلي وه چه هغوي سردار کوهینانو ته بند کړِي واستوِي ٢٢ لیکن ساؤل ٢٢
زیات قُوّت بیاموند هغه یهودیان چه په دَمِشق کښ اوسیدونکي وُو
حیران ئي کړل او ثابت ئي کړ چه دا هغه مسیح دي
٢٣ اوچه ډیري ورځي پوره شوي یهودیانو جرګه وکړه چه وئې وژنِي ٢٣
٢٤ لیکن ساؤل ته مکر دَدوي معلوم شه او شپه او ورځ ئي هم دَ دروازو ٢٤
څوکئ کوله تاچه وئي وژنِي ٢٥ مګر په شپه کښ شاګردانو واخست په ټوکرئ کښ ٢٥
کښته له دیوالَ ئي کوز کړ
٢٦ اوچه ساؤل اورشلیم ته راغي کوشش ئي وکړ چه له شاګردانو ٢٦
سره یَوځاي شِي لیکن ټول ترِنه ویریدل څکه چه باور ئي نه کاوه چه هغه
شاګرد دي ٢٧ لیکن بَرنَاباس واخست او رسولانو ته ئي بوتَ او هغوي ته ئي خبره وکړه ٢٧

او چه پطرس ئي وليد نو كښيناسته ۴۱ اولاس ئي ورکړ او پورته ئي کړه او ۴۱
مُقَدَّسان او کونډي ئي وبللي هغه ئي دوي ته ژوندئ وسپارله ۴۲ نو دا په ۴۲
ټوله يافه کښ مشهوره شوه او ډيرو په خداوند ايمان راوړ ۴۳ او داسي ۴۳
وشوه چه په يافي کښ شمعون رنګريز څخه ډيري ورځي پاتي شه ❖

# لسم باب

۱ او په قيصريه کښ يو كرنيليوس نومي سړي صوبدار دَ هغه فوځ چه ۱
اِيطالِيا ور ته وائي ۲ او هغه له ټول کورخپل سره ديندار او خداي ترسه ۲
وُه چه ډير خيراتونه ئي خلقو ته ورکول او په هر وقت کښ ئي الله ته دُعا کوله
۳ هغه يوه ورځ په رؤيا کښ ظاهره نهم ساعت ته نزدي فرښته دَ الله وليده ۳
ورننه وتله او ورته وئي ويل اي کرَنيليُوسَ ۴ او چه ورته په ځير شه ۴
او وويريده او وئي ويل څه دِي اي خداونده ده ورته وويل دُعا او
خيراتونه ستا دَ يادګارئِ دَپارَ دَ الله دَ وړاندِ ختلي دِي ۵ او اوس يافي ۵
ته سړِي واستاوه او شَمعُون چه پطرَس ورته وايه شِي راوبوله ۶ چه ۶
هغه دَ شَمعُون نومي رنګريز ميلمه دي چه کورئ دَ درياب په غاړه دي
۷ او چه هغه فرښته چه ورسره ئي خبري کولي لاړه نو دوه تنه ئي له ۷
خدمتګارانو خپلو او يو ديندار سپاهِي له هغو نه چه دَده دَ ملازمانو
نه وه وئي باله او چه په هرڅه ئي پوره خبر کړل نو يافي ته ئي واستول
۹ بيا په صبا چه دوي سفر کاوه او ښهر ته نژدي شول نو پطرَس ۹
په کوټه وخوت دَ دُعاکولو دَپارَ شپږم ساعت ته نزدي ۱۰ نو وږي شه ۱۰
وئي غوښتل چه څه وخوري او چه هغوي ده له تياري کاوه نو په ده
بيخودِي راغله ۱۱ نو آسمان ئي پرانتلي وليد او يو لوښي لکه لوي ځادر ۱۱
په څلورو طرفو تړلي او په زمکه ځوړند په ده راکوزيږي ۱۲ چه په هغه کښ ۱۲
ټول چارپايان دَ زمکي او وحشيان او خوځيدونکي دَ زمکي او مرغان دَ
هوا وُو ۱۳ او ور ته آواز وشه چه اي پطرَسَ پورته شه ذبحه کړه او وخوره ۱۳
۱۴ پطرَس ووِ چه دا دِ ونه شِي اي خداونده ځکه چه ما هرګز حرام ۱۴

څلور ورځو نه تر دې ساعت پورې زه په نهم ساعت کښې په خپل کور کښې دُعا
کونکې وم لهٔ ګوره چه يو سړې چه نوراني جامې يې لرلې په مخ کښې مې ودرېده
۳۱ ۳۱ او وې ويل اې کُرنيليُوسَ ستا دُعا واورېدله شوه او ستا خيراتونه دَ الله
۳۲ دَ وړاندِ يادکړې شول ۳۲ نو يافې ته واستوه او شَمعُون چه پَطرُس ورته وايه
۳۳ شِي راوغواړه چه دَ شَمعُون رنګريز کره په غاړه دَ درياب ميلمه دې ۳۳ نو
دستي مې درواستول او تا ښه وکړه چه راغلې او اوس مونږ ټول دَ الله په
۳۴ حِضُور حاضر يُو تاچه هغه ټول چه خداوندتا ته فرمايلې دِي واورُو ۳۴ نو پَطرُسَ
خوله پرانستله و يې ويل
۳۵ چه په حقه سره پوه شوم چه الله دَ مخونو قبولونکې نه دَې ۳۵ بلکه په
۳۶ هر قوم کښې هغه دَده خوښ دِي چه له ده نه وېرېږي او صادقان دِي ۳۶ هغه
کلام چه بنې اسرائيل ته يې واستاوه زېرې په سلامتيا ورکوي په يسوع مسيح
۳۷ (هم هغه دَ ټولو خداوند دې) ۳۷ تاسو په هغې خبرې خبر يئ چه شروع يې له
جليلَ وَه په ټوله يهوديه کښې خوره شوه پس له هغې بپتسما چه يُوحَنّا ندا
۳۸ پرِ کوله ۳۸ يسوع ناصرِي چه څرنګ الله په رُوحَ الْقُدُس او په قدرت سره مسحه
کړه دې احسان کونکې تېرېده او هغو ټولو ته چه اِبلِيس پرِ مسلّط وه شفا
۳۹ ورکړِي ځکه چه الله له ده سره وه ۳۹ او مونږ شاهدان يُو دَده په ټولو کارونو
چه دَه دَ يهوديُ په ملک کښې او په اورشليم کښې وکړل هغه چه قتل يې هم
۴۰ کړ په لرګي يې ځوړند کړ ۴۰ هغه الله په دريمه ورځ پورته کړ ظاهرکېدل يې
۴۱ ورکړل ۴۱ ليکن نه ټولو خلقو ته بلکه په هغو شاهدانو چه الله وړاندِ غوره
کړي وُو مونږ ته چه پس له پورته کېدلو دَده له مړيو نه مونږ ورسره وخوړل
۴۲ او وڅښل ۴۲ او مونږ ته يې حکم وکړ چه خلقو ته وعظ او شاهدي وکړو
۴۳ چه دا دې له الله نه مقرّر کړې شوې قاضي دَ ژوندو او دَ مړو ۴۳ او ټول
نبيان په ده شاهدي ورکوي چه هغه ټول چه په ده ايمان راوړي دَده په
نُوم به بخښنه دَ خطاوُ بيامومي
۴۴ ۴۴ لا تر اوسه پَطرَس دا خبرې کولې چه رُوحُ الْقُدُس په هغو ټولو چه

۱۴ نژدي تير شول ۱۴ ليکن پس له لږ ساعت نه طوفاني باد چه دَ هغه
۱۵ يُوراقيلون نُوم ئې وه ورباندِ والوت ۱۵ اوچه جهاز ونيولي شه او نه توانيده
۱۶ چه باد ته مخامخ شي نو مو وسپاره مونږ يوړلي شُو ۱۶ نودَ يوي
جزيري لاندِ چه نُوم ئې کَودَه وه لاهو شولو او په سختئ سره وتوانيدلو چه
۱۷ بيړئ مو په لاس راوسته ۱۷ اوچه دا ئې پورته کړه نو دَ مدد واکي ئې
استعمال کړي او مينځ دَ جهاز دَ لاندِ ئې وتاړه اوچه ويريدل چه په
۱۸ سيرتَس کښ به پريوزي اسباب ئې ښکته راوړ او داسي وړلي شول ۱۸ او
۱۹ چه مونږ په ډير طوفان کښ وُو نو صبا ئې بار وغورزاوه ۱۹ او په دريمه
۲۰ ورځ مو اسباب دَ جهاز په خپلو لاسونو وغورزاوه ۲۰ او چه تر ډيرو ورځو
نمر او ستوري ښکاره نه شول او طوفان هم راباندِ لږ نه وه نو په
۲۱ اَخره ټول اميد دَ خلاصيدلو رانه واخستلي شه ۲۱ او پس له ډيري فاقي
پَولُس دَ هغو په مينځ کښ ودريده وئې ويل اي سړو بايده وه چه ثما
مو منلي وه او له کرِيت نه لاهو شوي نه وي تا چه له دي زيانَ او له نقصانَ
۲۲ خلاص شوي وي ۲۲ او اوس زه تاسي ته تسلي درکوم چه ډاډه اوسئِ چه
۲۳ هيڅ ضرر به ستاسي دَ يَوه دَ ثان و نه شي مګر دَ جهاز ۲۳ ثکه چه
په دي شپه کښ فرښته دَ الله چه زه دَ هغه يم او زه ئې عبادت کوم
۲۴ ما ته ودريده ۲۴ وئې ويل اي پَولُسَ مه ويرېږه چه تا ته بايده دِي چه دَ قيصر
دَ وړاندِ ودريږي اوګوره چه الله هغه ټول مسافران چه له تا سره دِي تا ته
۲۵ بخښلي دِي ۲۵ دي دَپارَ اي سړو ډاډه اوسئِ ثکه چه زه په الله ايمان
۲۶ لرم چه داسي به وشي لکه چه ما ته ويلي شوي دِي ۲۶ ليکن بايده دِي چه
مونږ په يوه جزيره کښ واچولي شُو
۲۷ ۲۷ او چه ثورلسمه شپه شوه او مونږ دَ اَدرِيَاه په درياب کښ يوَ
خوا بل خوا زغلوي شُو په نيمه شپه ماڼراکانو ګمان کاوه چه کومي وچي
۲۸ نژدي کيږو ۲۸ نو پاياو ئې معلوم کړ شل وازي ئې وموند او پس له لږي
۲۹ مُدي نه ئې بيا پاياؤ معلوم کړ پنځلس وازي ئې بياموند ۲۹ اوچه وويريدل

اول وغورزوِي ، او زمکي ته دِ ووځي ۴۴ او ځيني په تختو او ځيني په ټکړو ۴۴
دَ جهاز او هم هسي شول چه ټول په سلامتئ سره زمکه ته خلاص شول ؞

# اته ويشتم باب

۱ او چه خلاص شو نو پوه شُو چه هغي جزيري ته مُليطه ويلي شي ۱
۲ او هغو ربريو له مونږ سره بي اندازه مهرباني وکړه ځکه چه دَ باران ۲
چه وريده او دَ يخني دَپارَ يُ اور بل کړ او مونږ ټول يُ قبول کړو -
۳ نو چه پَولُس يو ګيړي دَ لرګو سره ټول کړ په اور يُ کيښودل له ګرمئ ۳
نه يو تور مار راووت په لاس پوري يُ ونښت ۴ چه ربريانو هغه ځناور ۴
وليد چه په لاس يُ ځوړند دي يو له بله يُ وويل چه بيشَکَ دا سړي
خوني دي اګر که له درياب نه خلاص شه ليکن عدالت به يُ ژوندي پري نه
پرږدي ۵ نو هغه ځناور يُ اور ته وځانډه او هيڅ ضرر يُ و نه موند - ۵
۶ او هغوي منتظر وُو چه و به پړسيږي يا ناڅاپه به مړ پريوزي او چه ۶
ډير يُ ور ته وکتل او و يُ ليد چه هيڅ ضرر ور و نه رسيد وګرزيدل
و يُ ويل چه دا يو الله دي ۷
۷ او په ګيرچاپير دَ هغه ځاي دَ جزيري دَ رئيس چه پوُبليوس
نُوم يُ وه مُلک وه او هغه مونږ قبول کړُو او دري ورځي يُ په مهرباني
سره ځمونږ ميلمستيا وکړه ۸ نو داسي وشول چه پلار دَ پوُبليوس په ۸
تبه او په نَس خوږي مبتلا پروت وه نو پوَلُس ورننه وت او دُعا يُ وکړه
او لاسونه يُ پري کيښودل او شفا يُ ورکړه ۹ او چه دا وشه نو هغه نور ۹
رنځوران چه په جزيري کښ وُو راتله شفا يُ موندله ۱۰ نو هغو مونږ ته ۱۰
په ډيرو عزّتونو سره عزّت راکړ او چه لنګر مو پورته کړ نو هغه چه
را ته په کار وُو را و يُ خيژول
۱۱ او پس له دريو مياشتو مونږ دَ اَسکندريي په جهاز کښ لاهو ۱۱
شولُو چه نخښي دَ جوزا يُ لرلي او ژمي يُ په جزيري کښ تيرکړي وه ۱۲ نو ۱۲
مونږ په سرَاکوس کښ کوز شُو دري ورځي پاتي شو ۱۳ او له هغه ځاي ۱۳

چه الله په معرفت خپل کښې ولرِي نو الله هم دوي دَ عقل بي تميزۍ ته و
٢٩ سپارل چه نالايق کارونه کوِي ٢٩ ډک شوِي له ټولِي ناراستۍ او له شرارت
او له حرص او له بديۍ نه ډک شوِي له حسدَ له قتلَ له جګړِي له ټګۍ
٣٠ او له بدخوۍ نه ٣٠ چغل خوران تُهمت لګونکي له الله نه نفرتيان مغروران
٣١ کبرجنان لاف زنان جوړونکي دَ شرونو دَ مور دَ پلار نافرمان ٣١ بي عقلان
٣٢ بي وعدي بي الفتَ او بي رَحمَ ٣٢ هغوي چه په حکمِ دَ الله پوهيدونکي
شول چه دَ داسي کارکونکي دَ مرګ لايق دِي نو دوي نه تش هغه کوِي
بلکه استعمال کونکي دَ دي کارونو هم خوښوِي ❊ .

## دويم باب

١ ١ پس اي سړيه ته چه حکم کوي چه هرڅوک چه يي بي عذره يي څکه
چه په هغه څه چه ته په بل حکم کوي په خپل ځان فتویٰ ورکوي څکه
٢ چه ته چه حکم کونکي يي بعينه هم هغه کارونه کوي ٢ او مونږ پوهيږو
٣ چه حکمِ دَ الله په داسي کارکونکيو باندِ برحق دي ٣ ګنړه ته داسي ګمان
کوي اي سړيه چه په داسي کارکونکو باندِ حکم کوي او په خپله هم هغه
٤ کارونه کوي چه له عدالتَ دَ الله نه به خلاص شي څه ؟ ٤ يا ته دَده دَ
مهربانۍ او دَ حلم او دَ سهيدلو دولت سپک ګنړي څه ؟ او ته نه پوهيږي
٥ چه مهر دَ الله دِ توبي ته وربولِي ٥ بلکه په سبب دَ سختۍ او دَ ناتوبه کار
زړه سره دَ غضب په ورځ او په ظاهريدلو دَ حق عدالت دَ الله دَ ځان
٦ دَپارَ غضب ذخيره کوي ٦ او چه هر يوه ته به دَده دَ عملونو په موافق
٧ جزا ورکړِي ٧ هغوي ته چه په صبر سره دَ نيک کار په عمل کښې جلال
٨ او عزت او بقا لټوِي ابدي ژوندون ٨ مګر په هغو باندِ چه مفسدان
دِي او دَ حق تابعداري نه کوِي بلکه دَ ناراستۍ تابعداري کوِي قهر او غضب
٩ ٩ عذاب او تنګي په هر روح دَ بشر باندِ چه بدي کوِي اوّل دَ يهودِي
١٠ بيا دَ يوناني ١٠ ليکن جلال او عزت او سلامتي ټولو ته چه نيکي کوِي اوّل يهودِي
بيا يوناني ته

چه دَ شرعي دِي وارثان شِي نو ايمان بي‌فائدي شه او وعده باطله شوه ۱۵ ځکه ۱۵
چه شريعت دَ غضب کار کوِي ليکن هرچرته چه شريعت نشته تعدیٰ هم
نشته ۱۶ دي دَپارَ له ايمانَ وشوه تاچه پهٔ فضل سره وِي اوچه وعدٰه ۱۶
دَ ټول اولاد دَپارَ ثابته شِي نه تش هغه ته چه دَ شريعت دي تش بلکه دَ
هغه دَپارَ هم چه دَ ابراهام له ايمانه دَي هغه چه ځمونږ دَ ټولو پلار دي
۱۷ (لکه چه ليکلي شوِي دِي چه ته مِ دَ ډيرو قومونو پلار کړِي يِي) دَ هغه ۱۷
الله دَ وړاندِ چه ده ايمان پرِ راوړِي وه هغه چه مړِي ژوندِي کوِي او
ناموجود څيزونه داسي بولِي لکه چه موجود دِي ۱۸ هغه څوک چه پهٔ خلاف دَ ۱۸
اميد له اميد سرهِ ايمان راوړ تاچه دَ ډيرو قومونو پلار شِي لکه چه وِلي
شوِي وُو چه ستا اولاد به هم داسي وِي ۱۹ اوچه دي پهٔ ايمان کښ ضعيف ۱۹
نه وه نو پهٔ خپل صورت ئِي نظر نه کړ چه دَ مړِي پهٔ شان وه (ځکه چه دي
سل کلني وه) او نه دَ ساري دَ رحِم چه مړاوي شوي وه ۲۰ او نه ئِي پهٔ بي‌ايمانئِ ۲۰
سرهِ دَ الله پهٔ وعده کښ شک راوړ بلکه پهٔ ايمان سره قوِي وه الله لره
تمجيد ورکونکي ۲۱ او بنه يقين ئِي لاره چه هرڅه چه ده وعده پرِ کړِي دَه ۲۱
پهٔ کولو ئِي هم قادر دي دي دَپارَ ورلرهِ صداقت وګڼلِي شه ۲۳ ليکن نه تش ۲۳
دَده دَپارَ ليکلِي شوِي دِي چه دا ورته وګڼلِي شه ۲۴ بلکه ځمونږ دَپارَ ۲۴
هم هغوِي چه ورته ګڼلِي شِي که چرِي مونږ ايمان راورو پهٔ هغه چه يسوع
خداوند ځمونږ ئِي له مړو پاڅاوه ۲۵ هغه چه ځمونږ دَ تقصيرونو دَپارَ ۲۵
وسپارلِي شه او ځمونږ دَ صادقولو دَپارَ پاڅولِي شه ⁜

# پنځم باب

۱ نو هرکله چه مونږ پهٔ ايمان سره صادق وګڼلِي شولو نو مونږ له الله ۱
سرهِ سلام لرُو پهٔ وسيلي دَ يسوع مسيح خداوند ځمونږ ۲ هغه چه دَده ۲
پهٔ وسيلي مونږ پهٔ ايمان سره هغه فضل ته هم ننوتل وموندل چه پهٔ کښ
مقيم يُو او دَ الله دَ جلال پهٔ اميد فخر کوُو ۳ او نه تش دا بلکه مونږ پهٔ ۳
تنګسو کښ هم فخر کوُو چه مونږ پوهيږُو چه تنګسيا صبر پيدا کوِي ۴ او صبر ۴

# شپاړسم باب

١ زه تاسي ته خپله خور فیبي چه په کنکریَ کښې دَ کلیسیي خادمه ده سپارم ١
٢ چه تاسي دا په خداوند کښې داسي قبوله کړئ لکه چه دَ پاکانو سره لایقه ٢
ده او په هر څیز کښې چه تاسي ته محتاجه وي مدد یٔ ورکړئ ځکه چه دا
په خپله دَ ډیرو مددکاره شوي ده بلکه څما هم
٣ پریسکلا او اَکِوِلا ته چه په مسیح کښې څما همکاران دي سلام مِ ورکړئ ٣
هغوي چه څما دَ ژوند دَپارَ یٔ خپلي غاړي کیښودي ۴ هغوي ته چه نه ۴
زه یواځي یٔ شکر کوم بلکه دَ غیر قومونو ټولي کلیسیاي هم ۵ او هغي ۵
کلیسیي ته چه دَ دوي کره ده سلام وایي او څما محبوب اِپینِتُس
ته چه دَ مسیح دَپارَ دَ ایسیا نوي میوه ده سلام وایئ ۶ او مریمي ته چه ۶
څمونږ دَپارَ یٔ ډیر محنت کړي دَي سلام وایئ ٧ اَندرونِکُس او یونیاس ته ٧
مِ سلام وایئ چه څما خپلوان او را سره بندیان وُو هغوي چه په رسولانو
کښې نامدار دي او له ما نه وړاندِ په مسیح کښې وُو ٨ اَمپلیاس ته چه ٨
په خداوند کښې مِ محبوب دي سلام وایئ ٩ او اُوربانُوس ته چه په مسیح ٩
کښې څما همکار او څما محبوب اَسطاخِس ته سلام وایئ ١٠ اَپِلیس ته چه ١٠
په مسیح کښې مقبول دَي سلام وایئ او دَ اَرِسطوبُولُس خیلخانې ته مِ
سلام وایئ ١١ او څما خپلوان هیرودِیون ته مِ سلام وایئ هغوي ته چه له ١١
خیلخانې دَ نَرکِسُوس په خداوند کښې دِي سلام وایئ ١٢ ترِیوفینا او ١٢
ترِفوسا ته چه په خداوند کښې کار کونکي دِي سلام وایئ ١٣ پیرسِس محبوبي ١٣
ته چه په خداوند کښې یٔ ډیر محنت کړي وه سلام وایئ روفس ته چه په
خداوند کښې غوره شوي دي او دَ ده مور ته او څما هم سلام وایئ-
١۴ او اسینکرِتُس او افلیغون او هَرماس ته او پطروباس او هرمیس ١۴
ته او هغو ورونړو ته چه له دوي سره دِي سلام وایئ ١۵ فیلولکس او ١۵
جُولیا او نیریُوس او دَ دوي خور ته او اُولمپاس او هغو ټولو پاکانو ته چه

فخر و نه کړي ۳۰ ليکن تاسي له هغه نه په يسوع مسيح کښې يئ چه څمونږ ۳۰
دَپارَ له اَللّٰه نه حکمت او صداقت او قدّوسيّت او فديه شه ۳۱ تا لکه چه ۳۱
ليکلي شوي دي چه هغه څوک چه فخر کوي په خداوند دِ فخر کوي ❊

## دويم باب

۱ او زه چه تاسي ته درغلم اي ورونړو نه په لوئي دَ کلام او دَ حکمت درَغلم ۱
منادي کونکي تاسو ته په راز دَ اَللّٰه ۲ ځکه چه ما نيت و نه کړ چه ستاسي ۲
په مينځ کښې څه شي وپيژنم بي له يسوع مسيح نه او هغه مصلوب شوي-
۳ او زه په ضعيفي او په ويري او په ډيري لړزي کښې ستاسي سره شوم ۳
۴ او ځما کلام او ځما وعظ نه په لمسونکي کلام دَ حکمت بلکه په دليل دَ ۴
روح او دَ قدرت ۵ تا چه ستاسي ايمان دَ انسان په حکمت کښې نه وِي ۵
بلکه په قدرت دَ اَللّٰه
۶ ليکن مونږ دَ کاملانو په مينځ کښې په حکمت سره خبري کوُو مګر نه ٦
په حکمت دَدي زماني او نه دَدي زماني دَ سردارانو چه ورکيدونکي دِي ۷ بلکه مونږ حکمت ۷
دَ اَللّٰه په راز کښې وايُو هغهَ چه پټ وه چه اَللّٰه وړاندِ له زمانو نه څمونږ
دَجلال دَپارَ معيّن کړي وه ۸ هغه چه دَدي زماني له سردارانو هيچا ونه پيژاند ۸
ځکه چه که هغه ئي پيژاندلي وي نو خداوند دَ جلال به ئي نه وه په صليب
کړي ۹ بلکه لکه چه ليکلي شوي دِي ۹

هغه څيزونه چه نه سترګو وليدل او نه غوږونو واوريدل
او نه دَ سړي په زړه کښې تير شول
هغه څيزونه چه اَللّٰه دَ هغو دَپارَ چه محبت ورسره لري تيار کړل

۱۰ ليکن اَللّٰه په مونږ دَ روح په وسيلي مکشوف کړل ځکه چه روح ټول څيزونه ۱۰
تفحص کوِي هو دَ اَللّٰه ژوري هم ۱۱ ځکه کوم سړي دَي چه دَ انسان څيزونه ۱۱
پيژني مګر روح دَ هغه سړِي چه په ده کښې دَي هم هسي څيزونه دَ اَللّٰه
هيڅوک نه پيژني مګر روح دَ اَللّٰه ۱۲ ليکن مونږ دَ عالم روح اخستي نه دَي بلکه ۱۲
هغه روح چه له اَللّٰه دَي تا چه مونږ هغه څيزونه چه اللّٰه را عنايت کړي

نِو انجیل بي له خرڅه کړم تا چه خپل اختیار په انجیل کښې ناحق استعمال
١٩ نه کړم ١٩ ځکه چه اګر که زه له ټولو نه آزاد یم مګر خپل ځان مې دَ ټولو
٢٠ سري کړ تا چه اکثر خلق پیدي وګټم ٢٠ او زه په یهودیانو کښې یهودي غوندي
شوم تا چه یهودیان وګټم او په شریعتیانو کښې شریعتي شوم تا چه شریعتیان
٢١ وګټم ٢١ او له بي شرعو سره لکه بي شرعي شوم اګر که دَ الله په نزد بي شرعي
٢٢ نه وم بلکه دَ مسیح تر شرعي لاندي تا چه بي شرعي وګټم ٢٢ ضعیفانو ته ضعیف
شوم تا چه ضعیفان وګټم دَ ټولو دَپارَ ټول څه شوي یم تا چه په هر حال
٢٣ سره څني خلاص کړم ٢٣ او دا واړه دَ انجیل دَپارَ کوم تا چه زه په هغه کښې شریک
٢٤ شم ٢٤ کنړه تاسي نه پوهیږئ چه هغوي چه په منډه زغلي ټول زغلي لیکن دَ
٢٥ یوي څوک یو کس اخلي تاسي داسي وزغلئ تا چه وئې نیسئ ٢٥ او هرڅوک
چه پهلواني کوي په هرڅه کښې پرهیز کوي هغوي دَ فاني تاج دَ اخستلو دَپارَ لیکن
٢٦ مونږ دَ غیر فاني دَپارَ ٢٦ نو زه خو داسي زغلم نه لکه بي یقینه او زه داسي
٢٧ سوک وهم نه لکه باد وهونکي ٢٧ بلکه خپله جُسه ښکیمنډلي او په غلامي کښې
ئې بیایم هسي نه چه نورو ته وعظ کوم او په خپله ترک کړي شم ❊

## لسم باب

١ ١ نو اي ورونړو زه نه غواړم چه تاسي ناخبره شئ چه څمونږ پارونه ټول تر
٢ اوریځي لاندي وُو او ټول په دریاب کښې تیریدل ٢ او ټولو په هغي اوریځي او
٣ په هغه دریاب کښې دَ موسیٰ بپتسما بیاموندہ ٣ او ټولو هم هغه روحاني
٤ خوراک وخوړ ٤ او ټولو هم هغه روحاني څښناک وڅښنه ځکه چه دوي له
هغي روحاني پرښه نه چه په دوي پسي تله وڅښل او هغه پرښه مسیح وه
٥ ٥ لیکن په هغوي کښې له ډیرو الله راضي نه وه ځکه دوي په بیابان کښې
٦ وارولي شول ٦ او دا خبري څمونږ دَپارَ نمونه شولي تا چه دَ بدیو خواهش کونکي
٧ نه شُو لکه چه هغوي خواهش وکړ ٧ نو بت پرست هم مه شئ لکه چه څني له
هغو وُو لکه چه لیکلي شوي دي چه خلق دَ خوړلو او څښلو دَپارَ کښیناستل
٨ بیا لوبو ته پورته شول ٨ او زنا دِ ونه کړو لکه چه څنو له هغو زنا وکړه او په

# دویم خط دَ پولس رسول وقرنتیانو ته

## اوّل باب

۱ ۱ پولُس رسول دَ یسوع مسیح په ارادي دَ الله او طمطاؤس ورور هغي
کلیسیي دَ الله ته چه په قرنت کښې ده له هغو ټولو پاکانو سره چه په
۲ ټولي اخائیي کښې دِي ۲ فضل او سلامتِي دِ ځمونږ دَ الله پلار او دَ
خداوند یسوع مسیح ناسو لره وِي
۳ ۳ مبارک دي الله او پلار ځمونږ دَ خداوند یسوع مسیح پلار دَ رحمتونو
۴ او الله دَ ټولي تسلِّي ۴ هغه چه مونږ ته په هري تنګسي کښې تسلِّي راکوِي تا
چه مونږ و توانیږُو چه په هغي تسلّي سره چه له الله نه ئي بیامونږ نورو لره
۵ په هري تنګسي کښې تسلِّي ورکوُو ۵ ځکه لکه چه دَ مسیح دردونه په مونږ باندِ
۶ زیاتیږِي هم هسي دَ مسیح په وسیلي تسلّي ځمونږ زیاتیږِي ۶ نو که مونږ په تنګیږُو
ستاسي دَ تسلّي او دَ نجات دَپارَ دِي یا که مونږ تسلِّي مومو نو هغه هم ستاسي
دَ تسلِّي او دَ نجات دَپارَ دِي هغه چه کار کونکي دي په صبر دَ هغو دردونو
۷ چه مونږ هم پري دردیږُو او ځمونږ امید ستاسي دَپارَ محکم دَي ۷ مونږ پوه یو
چه تاسي لِکه چه په دردونو کښې شریکان يئِ هم هسي په تسلِّي کښې به يئِ
۸ نو اي ورونړو مونږ نه غواړُو چه تاسي ناخبره شيئِ ځمونږ دَهغي تنګسي
په باب چه په آسیي رابینبه شوه چه له طاقت نه ډیر زیات بار شولو
۹ تر هسي حده چه له ژوندونه هم نااُمید شولو ۹ بلکه مونږ په خپلو ځانو حکم دَ مرګ
۱۰ لاره چه په خپلو ځانو توکل کونکي نه شُو بلکه په هغه الله چه پورته کونکي دَ مړو دَي ۱۰ هغه چه
له داسي لوي مرګ يُ خلاص کړُو او خلاص به مو کړي هغه چه مونږ امید
۱۱ پري لرُو چه پس له دي به مو هم خلاصوِي ۱۱ او تاسي هم به دعاکښې ځمونږ
سره مددګارِي کوئِ تاچه هغه نعمت چه له ډیرو کسانو نه په مونږ باندِ
بخش کړي شه دَ ډیرو په وسیلي سره ځمونږ شکر ادا کړي شِي

١٣ ١٢ پس مونږ د دغه امید لرو په ډېر زړورتوب وایو ١٣ او نه د موسی په
شان چه په خپل مخ یې پرده واچوله تا چه بني اسرائیل اخر د دغه فاني
١٤ کېدونکي څیز ته ونه ګوري ١٤ لیکن د دغو طبیعتونه سخت کړې شول ځکه
چه تر ننه ورځې پورې هم هغه پرده د زاړه عهد په لوستو کښې لا پرته کې
١٥ پاتې ده هغه چه په مسیح کښې باطله کېږي ١٥ بلکه تر ننه ورځې پورې چه
١٦ موسی لوستې شي نو هغه پرده د دوی په زړونو پرته وي ١٦ لیکن هر کله
١٧ چه د خداوند په لوري واوړي نو هغه پرده به پرې کړې شي ١٧ او هغه
خداوند روح دی او هر چرته چه د خداوند روح دی هلته ازادي ده
١٨ ١٨ او مونږ ټول په ښکاره مخ سره د خداوند د جلال عکس ښکاري چه
وینو نو د جلال نه تر جلال پورې هم په هغه صورت بدل کېږو لکه چه د خداوند
په روح نه

## څلورم باب

١ ١ پس هر کله چه مونږ دا خدمت لرو لکه چه په مونږ رحم وکړې شه
٢ نو نه سستي کېږو ٢ بلکه د شرم پټ کارونه مونږ ګوښه کړل او په فریب کښې
نه ګرځو او نه بدلونکي د کلام الله د حق په ظاهرولو سره د هر یوه په
٣ تمیز کښې د الله په حضور خپل ځانونه ثابت کړو ٣ او که خمونږ انجیل
٤ پټ شوی وي نو په هلاکېدونکو کښې پټ شوی دی ٤ هغوی چه په دوی
کښې د دې جهان خدای د ناایمانانو ذهنونه ړانده کړل تا چه روښنائي
د انجیل د جلال د مسیح هغه چه صورت د الله دی پر دوی ونه ځلېږي
٥ ٥ ځکه چه مونږ په خپلو ځانو وعظ نه کوو بلکه په مسیح یسوع خداوند
٦ او خپل ځانونه د یسوع د پاره ستاسې غلامان یو ٦ ځکه هغه الله چه
وئې ویل چه په تیارې د نور وځلېږي دا هغه دی چه خمونږ په زړونو
کښې وځلېده د پاره د روښانولو د معرفت د جلال د الله د یسوع مسیح
په مخ کښې
٧ ٧ لیکن مونږ دا خزانه په خاورینو لوښو کښې لرو تا چه بزرګي د

٨ قدرت د الله وښي او نه له موږ نه ۔ تکليف مومونکي يو په هر څيز کښ
٩ ليکن تنګ شوي نه يو حيران شوي يو ليکن نا امېده شوي نه يو ۔ ربړولي شوي يو ليکن
١٠ پرېښودلي شوي نه يو غورځولي شوي يو ليکن نه هلاک شوي ۔ هر وقت مړيدل د يسوع
په جسم کښ باروو تا چه ژوند د يسوع هم زموږ په جسم کښ ښکاره
١١ شي ۔ ځکه موږ چه ژوندي يو د يسوع دپاره همېشه و مرګ ته سپارلي
شو تا چه هغه ژوند د يسوع زموږ په مړېدونکي جسم کښ هم ښکاره
١٢ شي ۔ ځکه چه هغه مرګ په موږ کښ عمل کوي او هغه ژوند په تاسو
١٣ کښ ۔ او موږ هغه روح د ايمان لرو لکه چه ليکلي دي چه ما ايمان
راوړو په دې سبب مې وويل نو موږ هم ايمان راوړو او وايو ددې دپاره
١٤ چه دا پوهيږو چه هغه چه خداوند يسوع ئې له مړو پورته کړو موږ به
١٥ هم له يسوع سره پورته کړي او له تاسو سره به مو حاضر کړي ۔ ځکه
چه ټول څيزونه ستاسو دپاره دي تا چه هغه فضل چه د ډېرو په وسيله
زيات کړي شوي دي د الله د جلال دپاره شکر زيات کړي

١٦ نو ددې دپاره موږ نه ستړي کېږو بلکه که څه هم هغه ظاهري انسان
١٧ زموږ فاني شي نو هغه باطني ورځ په ورځ تازه کېږي ۔ ځکه چه هغه
سپکه تکليفا زموږ د اوسني آن بار د ابدي جلال زموږ دپاره ډېر په ډېر
١٨ پيدا کوي ۔ ځکه چه موږ په ديدني څيزونو نه ګورو بلکه په ناديدني څيزونو
نظر کوو ځکه چه ديدني څيزونه په آن دي مګر ناديدني څيزونه ابدي دي ۔

## پنځم باب

١ ځکه چه موږ پوهيږو چه که دا خاکي کور زموږ يعني دا خېمه کېږدۍ ونړېږي
شي نو موږ به له الله نه يو عمارت مومو ئې لاس نه جوړ شوي کور
٢ ابدي او په آسمانونو کښ ۔ ځکه چه موږ په دې کښ هم آسويلي کوو
٣ او ډېره آرزو لرو چه خپل آسماني محل پرې واغوندو ۔ که چرې موږ
٤ جامې اغوستي شو نو بربنډ به موندلي نه شو ۔ ځکه چه موږ هغه
يو چه په دې کېږدۍ کښ يو بار شوي آسويلي کوو ځکه چه موږ نه غواړو

زیاتوالی دی چه تاسو ته ئي ولیکم ۲ ځکه چه زه ستاسي په هغي بېړي ۲
پوهیږم چه دَ هغه په سبب دَ مقدونیانو په مخ کښ زه ستاسي فخر
کوم چه آخیه له پروسږکال نه تیاره کړي شوي دَه او ستاسي غیرت
ډیر خلق لمسولي دي ۳ لیکن ما هغه ورونړه واستول تا چه ځمونږ فخر ۳
چه په دي خبرهَ کښ مو ستاسي په باب وکړ عبث نه شي لکه چه
ما ویلي دي تاسي تیار شئ ۴ هسي نه چه که چري مقدونیان راسره ۴
راشي او تاسي ناتیارَ بیاموي نو نه وایم چه تاسي بلکه مونږ به
دَدي فخر په باورکولو شرمنده شو ۵ نو دَدي دَپارَه م ضرور وګڼل ۵
چه ورونړو ته سوال وکړم چه دوي تاسي ته درشي او ستاسي هغه
برکت چه وړاندي وعده پري کړي شوي وه تیار کړي تا چه دغه تیار وي
داسي لکه چه برکت او نه لکه چه طمعَ
۶ غرض دا چه هغه څوک چه په صرفي سره کري په صرفي سره به ۶
هم وریبي او هغه څوک چه په برکتونو سره وکري په برکتونو سره به
وریبي ۷ هر څوک لکه چه په زړه کښ نیت کوي ورکوي دِ نه په زغم ۷
نه په ضرورت سره ځکه چه الله له خوشحالي کونکي سره محبت لري
۸ او هغه الله قادر دَي چه تاسي لره نعمت در زیات کړي تا چه تاسي ۸
په هري خبري کښ مدام بتول کفایت لرونکي په هر نیک عمل کښ زیات
شئ ۹ لکه چه لیکلي شوي دي چه ۹

هغه شندلي دي هغه محتاجانو ته ورکړي دي
دَ هغه صداقت تر ابدَ پوري باقي دَي

۱۰ هغه چه کرونکي ته تخم او خورونکي ته ډوډئ ورکوي تاسي ته به هم ۱۰
تخم درکړي او ډیر به ئي کړي او ستاسي دَ صداقت حاصل به زیات
به زیاتوِ کړي ۱۱ چه په هر څیز کښ غنیان شوي پوره اخلاص وکړئ ۱۱
چه دا ځمونږ په وسیلي سره دَ الله شکرګذاري کیږي ۱۲ ځکه چه دَدي ۱۲
خدمتګذاري ادا کول نه تش دَ پاکانو حاجتونه پوره کوي بلکه دَ الله دَپارَ

۱۰ کښِ یو هم هسې چه حاضر شو به عمل کښِ یو ۱۲ ځکه چه جرأت نه کوو چه خپل ځانونه له هغوند وشمیرو
یا برابر کوو چه دَ خپلو ځانونو سفارش کوِي لیکن هغوِي چه خپل ځانونه په خپله اندازه
۱۳ کوِي او خپل ځانونه دَ خپلو ځانونو سره برابروِي بې پوهې دِي ۱۳ مګر مونږ
به بې اندازې فخر و نه کړو مګر دَ هغې پیمانې دَ قانون په موافق چه الله
۱۴ مونږ لره په پیمانې سره وویشه چه تر تاسې پورې هم ورسیږو ۱۴ ځکه
چه مونږ خپل ځانونه له حد نه بهر نه اوږدوو چه ګویا کښِ تر تاسې
پورې نه یو رسیدلې ځکه چه مونږ دَ مسیح په انجیل کښِ تاسې ته
۱۵ ورسیدلو ۱۵ او مونږ بې اندازې دَ نورو په محنتونو فخر نه کوو لیکن امید
لرو چه هرکله چه ستاسې دَ ایمان زیات والې وشي نو به مونږ موافق دَ
۱۶ قانون خپل ستاسې په سبب کښِ بې حده زیات لوې شو ۱۶ تا چه ستاسې
تر بهر حدونو پورې به دَ انجیل زیرې ورکړو او نه چه په پردې قانون
۱۷ به تیارو شویو څیزونو فخر وکړو ۱۷ لیکن هغه څوک چه فخر کوِي په خداوند
۱۸ دِ فخر کوِي ۱۸ ځکه چه هغه څوک چه خپل ځان ثابتوِي قبول نه دي بلکه
هغه چه خداوند ئې ثابت کړِي ✣

## یولسم باب

۱ ۲ ۱ کاشکې چه تاسې ځما دَ کم عقلئ زغم وکړئ هو تاسې ځما زغم وکړئ ۲ ځکه
چه زه دَ الله په غیرت سره په تاسې غیرت کوم ځکه چه تاسې مې یو سړي
۳ لره وکوژدلئ تاسې یوه پاکدامنه پیغله دَ مسیح په حضور وړوم ۳ لیکن
زه ویریږم هسې نه وِي لکه چه مار په خپلې ټګئ سره حوّا وغولوله هم
هسې ستاسې ذهنونه له هغې صفائې نه چه په مسیح کښِ ده خراب کړِي
۴ شي ۴ ځکه چه که څوک راشي او په بل یسوع وعظ کوِي چه مونږ ئې
وعظ کړې نه دَی یا که چرې تاسې بل روح چه تاسې اخستلې نه دې وا
ئې خلئ یا بل انجیل چه تاسې قبول کړې نه وه نو ښه مو وکړل چه زغم
۵ مو وکړ ۵ ځکه چه زه ګڼړم چه زه له ډیرو لویو رسولانو نه هیڅ وروستو نه یم
۶ ۶ او که په کلام کښِ هم اُمّي یم لیکن په علم کښِ نه یم لیکن مونږ په

۱۳ ځکه چه تاسي خو اي ورونړو دَ آزادئِ دَپارَ بللي شوي يئِ مگر ۱۳
آزادي نشه دَ جسم دَپارَ وار مه گنړئِ بلکه په محبّت سره يو دَ بل خدمت
کوئِ ۱۴ ځکه چه ټوله شرعه په يوي خبري کښ پوره شوي ده يعني چه ۱۴
له خپل گاونډِي سره دَ خپل ځان په شان مينه کوه ۱۵ نو که تاسي يو ۱۵
بل سره چيچئِ اوخورئِ نوخبردار هسي نه وِي چه يو له بله هلاک شئِ

۱۶ نو زه دا وايم چه په روح سره گرزئِ نو دَ نفس شهوتونه به ۱۶
پوره نه کړئِ ۱۷ ځکه چه نفس دَ روح په خلاف خواهش کوِي او روح په ۱۷
خلاف دَ نفس او دوي يو له بل نه مقابله کوِي تر دي چه هغه چه
تاسي ئي غوارئِ کولي ئي نه شئِ ۱۸ ليکن که تاسي په روح سره بيولي ۱۸
شوِي يئِ نو تر شريعت دَ لاندي نه يئِ ۱۹ او دَ نفس کارونه خو ظاهر دِي ۱۹
يعني زنا ناپاکي فسق ۲۰ بت پرستي جادوگري دښمني جگړي غيرتونه قهرونه ۲۰
گونډي دارئِ فتني بدعتونه ۲۱ حسد مستئِ رندانه مجلسونه او هغه ۲۱
چه دَدغو په شان دِي دَ هغو په باب وړاندِ درته وايم لکه چه وړاندِ
مِ درته وِيلي دِي چه هغه څوک چه دا هسي کارونه کوِي دَ الله دَ بادشاهي
وارثان به نه شِي ۲۲ ليکن دَ روح ميوه چه ده محبّت خوښي صلحه ۲۲
اوږد زغم مهرباني ښيگړي ايمان حليمي پرهيزگاري ۲۳ دَ داسي کارونو ۲۳
په خلاف هيڅ شريعت نشته ۲۴ او هغه چه دَ يسوع مسيح دِي نفس ۲۴
ئي له بدو هوسونو او شهوتونو سره په صليب کړي دَي ٭

۲۵ نو که په روح سره ژوندون وکړو نو دَ روح په ترتيب دِ هم وگرزو ۲۵
۲۶ لاني وهونکي دِ نه شو چه يو په بل ولمسوو او يو په بل باندِ کينه وکړو ٭ ۲۶

## شپږم باب

۱ اي ورونړو که هر څو يو سړي په يوه تقصير سره گرفتار شِي نو تاسي ۱
چه روحاني يئِ دغه شان سړي دَ حليمتوب په روح سره جوړ کړئِ او
خپل ځان ته گوره هسي نه چه ته هم وازمايلي شي ۲ تاسي يو دَ بل ۲
بيټي واخلئِ او په دي طور سره دَ مسيح شريعه پوره کړئِ ۳ که چري ۳

مه سُست کیږئ ځکه چه هغه ستاسي دَپارَ جلال دَي
۱۴ دي دَپارَ ځمونږ دَ هغه پلار دَ وړاندي خپل زنګنونه لګوم - ۱۴
۱۵ چه له ده نه ټولي ټبري په آسمانونو کښ او په زمکه باندي نوم بیاموي ۱۵
۱۶ چه دي دَ خپل جلال دَ دولت په موافق تاسي ته دا درکړي چه دَ ده دَ روح ۱۶
په وسیلي په باطني انسان کښ په قوت سره زوراور کړي شئ ۱۷ چه مسیح ۱۷
دَ ایمان په وسیلي ستاسي په زړونو کښ واوسي ۱۸ تا چه تاسي په محبت ۱۸
کښ بېخ لرونکي او بُنیاد ږدونکي شئ له ټولو پاکانو سره په نیولو قادر
شئ چه ارتوالي او اوږدوالي او ژوروالي او اوچتوالي ځومره دَي ۱۹ او چه ۱۹
دَ مسیح په محبّت چه له معرفت نه بالاتر دَي پوه شئ تا چه دَ الله له
ټول ډکوالي نه ډک شئ ۲۰ اوس هغه ته چه داسي قادر دي چه هرڅه ۲۰
چه مونږ يې غواړو یا يې خیال کوُو په موافق دَ هغه قدرت چه په مونږ
کښ اثر کوي له هغه نه لا زیات کولي شي ۲۱ هغه لره دِ دَ کلیسیا په مینځ ۲۱
په مسیح یسوع کښ پیړئ په پیړئ ابدالاباد جلال وِي آمین +

## څلورم باب

۱ نو زه چه په خداوند کښ بندي یم تاسو ته التماس کوم چه له هغي ۱
بلني سره موافق چه بللي شوي يئ ګرزئ ۲ له ډیري عاجزي او حلیمي سره ۲
له اوږده زغم سره په محبّت سره یو دَ بل برداشت کوئ ۳ او کوشش ۳
کوئ چه یکانګي دَ روح په تړوني دَ صلحي کښ وساتئ ۴ یو صورت ۴
او یو روح دي لکه چه تاسي هم بللي شوي يئ دَ خپلي بلني په یوه
امید کښ ۵ یو خداوند یو ایمان یوه بپتسما ۶ یو الله او دَ ټولو پلار چه ۵ ۶
په ټولو باس او دَ ټولو په مینځ او په ټولو کښ دَي ۷ لیکن له مونږ نه ۷
هر یوه ته دَ مسیح دَ نعمت دَ اندازي په موافق فضل ورکړي شوي دَي -
۸ دي دَپارَ هغه وايي چه ۸

په اعلیٰ دخوت بندي يې بند کړه
او سړیو ته يې بخښونه ورکړل

# خط دَ پولس رسول کولسیانو ته

## اول باب

۱ ۲ ۱ پولس رسول دَ یسوع مسیح په ارادي دَ الله او طمطاؤس ورور ۲ هغو
پاکانو ته او په مسیح کښ مؤمنانو ورونړو ته چه په کولسي کښ دي فضل
تاسو ته او سلامتي له الله پلار څخه وي.
۳ ۳ مونږ دَ الله پلار دَ خپل خداوند یسوع مسیح شکر کوو مدام
۴ ستاسي دَپارَ دُعا کوو ۴ چه مونږ ستاسي دَ ایمان راوړل په یسوع مسیح
کښ واوریدل او هغه محبّت چه تاسي يې له ټولو پاکانو سره لرئ
۵ ۵ دَ هغه امید دَپارَ چه تاسي ته په آسمانونو کښ ایښي شوي دَي چه
۶ دَ هغه ذکر تاسي وړاندي دَ انجیل په حق کلام کښ واوریده ۶ چه هغه
تاسي ته حاضر دي لکه چه په ټولي دنیا کښ هم شته میوه راوړونکي
او لوئیدونکي لکه چه په تاسي کښ له هغي ورځي نه چه تاسي دَ الله
۷ فضل په حقیقت سره واوریده او وپیژاند ۷ لکه چه تاسي څخه له
عزیز هم خدمتَ اِپفراس نه هم زده کړ چه ستاسي په خاطر دَ مسیح
۸ امانت‌دار خادم دي ۸ چه ده ستاسي دَ روح دَ محبّت خبر مونږ ته راکړ
۹ ۹ دي دَپارَ مونږ هم له هغي ورځي چه دا مو واوریدل ستاسو دَپارَ
مو دُعا و غوښتله او له سوال کولو نه نه ودریږو چه تاسي په ټول حکمت
۱۰ او په روحاني پوهه دَ ده دَ ارادي په پیژاندلو سره ډک شئ ۱۰ چه تاسي
په ټولي خوشحالئ سره لایق شان دَ خداوند وګرزئ او په هر نیک کار
۱۱ کښ میوه راوړونکي او په معرفت دَ الله کښ لویدونکي شئ ۱۱ په هر
قوّت سره دَ ده دَ جلال دَ زور په موافق قوّتناک شئ ټول صبر او اوږده
۱۲ زغم لره په خوشحالي سره ۱۲ شکرګذار هغه پلار لره چه يې په نور کښ
۱۳ دَ پاکانو دَ میراث بخري لره لایق کړي یو ۱۳ او مونږ يې دَ تاریکي له

له زمانو او له پیړیو نه پټ کړې شوې وه مګر اوس ذده پاکانو ته ښکاره
شوي دَي ۲۷ چه دوي لره الله دا اراده وکړه چه خبر ئې کړي چه دولت ۲۷
دَ جلال ددي راز په غیر قومونو کښ څه ذي هغه چه مسیح په تاسي
کښ اسید دَ جلال دي ۲۸ هغه چه موږ وعظ ئې کوُو هر سړي ته ۲۸
نصیحت کوُو او هر سړي ته په کاملي دانائي سره زده کوُو تاچه هر سړي
په یسوع مسیح کښ کامل حاضر کړُو ۲۹ او زه دي دَپارَ محنت او سعیه کوم ۲۹
ذره دَ تاثیر په موافق چه په قدرت سره په ماکښ تاثیر کوي ✢

## دویم باب

۱ زه غواړم چه تاسي پوه شئ چه ستاسي او دَ هغو چه په لاودیکیي کښ ۱
دي او دَ هغو ټولو دَپارَ چه څما مخ ئي په جسم کښ لیدلي نه دي زه څه
قدر سعیه لرم ۲ تاچه دَ هغو زړونه تسلي موُمي او په محبت سره ټول ۲
دولت دَ یقین او دَ فهم او دَ معرفت دَ راز دَ الله او دَ مسیح پیوسته
شئي ۳ چه په هغي کښ ټولي خزانې دَ دانائي او دَ پوهي پټي دي ۴ لیکن ۳ ۴
دا وایم هسي نه وي چه څوک تاسو ته په پستو خوږوخبرو فریب درکړي
۵ ځکه چه اګر که زه په جسم کښ بیسي شا یم لیکن په روح کښ ۵
درسره یم او زه ستاسي ترتیب او په مسیح باندي ستاسي دَ ایمان
مضبوطي ویم او خوشحالیږم

۶ نو لکه چه تاسي مسیح یسوع خداوند قبول کړ (هم هسي) په ده ۶
کښ ګرزئ ۷ او په ده کښ بیخ نیونکي او بنا بېدونکي او په ایمان کښ مضبوط ۷
شئ لکه چه تاسي تعلیم بیاموند او له شکرګذاري سره په ده کښ زیاتېدونکي
شئ

۸ ګورئ هسي نه وي چه څوک مو په فیلسوفي او په باطل فریب سره ۸
دَ سړو دَ روایت او دَ عالم دَ عنصرو په موافق وشوکوي او نه دَ مسیح
په موافق ۹ ځکه چه ټول ډکوالي دَ الوُهیت په ده کښ دَجسي په طور اوسي ۹
۱۰ او تاسي په ده کښ چه دَ ټولي حاکمي او اختیار سر دَي ډک کړي شوي ۱۰

# دويم باب

۱ ځکه اي ورونړو تاسي په خپله هم په دي پوهيږئ چه څمونږ دخل په ۱
تاسي کښ باطل نه وه ۲ بلکه اگر که مونږ وړاندِ په فلپيي کښ ډير عذاب ۲
او سپکاوي و موندل لکه چه تاسي پوهيږئ نو بيا مونږ په خپل الله
کښ زړورتوب وکړ چه په انجيل دَ الله په ډيري سعي سره تاسي ته
خبر درکوُو ۳ ځکه چه څمونږ نصيحت له گمراهئ او له ناپاکئ او له ۳
ټگئ سره نه وه ۴ بلکه لکه چه له الله نه خوښ کړي شوي يوُچه په ۴
انجيل امانتدار شوِي يوُ هم هسي خبر ورکوُو نه لکه چه سړِي راضِي
کوُو بلکه الله چه څمونږ زړونه ازمايِي ۵ لکه چه تاسي پوهيږئ چه ۵
مونږ هيڅکله دَ خوشامدو په کلام کښ نه يوُ او نه په بهانئ دَ طمعي
کښ الله شاهد دَي ۶ او نه مو له سړيو نه نه له تاسو او نه له نورو ۶
عزّت غوښت اگر که مونږ توانيدلو چه په تاسي بار شوُ لکه رسولان دَ
مسيح ۷ بلکه ستاسي په مينځ کښ نرم وُو لکه چه دائِي خپل هلکان ۷
پالي ۸ هم هسي مونږ ستاسي مينه دار يوُ مونږ راضِي وُو چه نه تش ۸
انجيل دَ الله تاسي ته درکړو بلکه خپل ځانونه هم ځکه چه تاسي په مونږ
باندي گران وئِ ۹ ځکه چه تاسي اي ورونړو څمونږ محنت او مشقت ياد ۹
لرئِ چه مونږ دَدي دَپارَ چه له تاسي نه په چا باندي بار نه شوُ
شپه او ورځ مو کار کاوه او تاسو ته مو په انجيل دَ الله وعظ
وکړ ۱۰ تاسي شاهدان يئِ او الله (هم) چه مونږ څرنگ په تاسي کښ ۱۰
په پاکئِ او په صداقت او په بي‌عيبئِ کښ وُو په تاسو مؤمنانو کښ
۱۱ لکه چه تاسي خبر يئِ چه مونږ له تاسي نه هر يوه ته څرنگ زارئِ ۱۱
کولي او دلاسائي او شاهدِي مو درکوله لکه چه پلار خپلو فرزندانو ته
۱۲ چه تاسي په لايقئِ سره دَ هغه الله گرزيدنه کوئِ چه تاسي ئې ۱۲
خپلي بادشاهئِ او جلال ته وبللئِ
۱۳ دي دَپارَ مونږ هم دَ الله شکر کوُو چه هرکله چه تاسي ۱۳

دروغو خوښ وو حکم وشي
١٣ ليکن اي ورونړو دَ خداوند محبوبانو مونږ ته بايده دِي چه ١٣
ستاسو دَپارَ مدام دَ الله شکر کوُ چه الله تاسي له اوّل نه دَ روح په
پاکيِ او دَ رښتيِنؤ په ايمان سره دَ نجات دَپارَ غوره کړيِ ١۴ او په دي ١۴
سبب ئِ تاسي څمونږ دَ زيري په وسيلي و بللئِ چه څمونږ دَ خداوند يسوع
مسيح جلال حاصل کړئِ ١٥ نو اي ورونړو ټينګ اوسئِ او هغه تعليمونه ١٥
چه تاسو يا څمونږ په کلام سره يا څمونږ په خط سره زده کړي دِي ونيسئِ
١٦ او څمونږ خداوند يسوع مسيح په خپله او څمونږ پلار الله چه په ١٦
مونږ باندي ئِ مينه وکړه او په فضل سره ئِ ابدِي تسلِّي او نيک اميد
راکړ ١٧ ستاسي زړونو ته دِ تسلِّي درکړي او تاسي دِ په ټول کار او کلام ١٧
کښ مضبوط کړي ✣

## درېم باب

آ غرض دا دَي اي ورونړو څمونږ په حق کښ دُعا کوئِ تا چه دَ خداوند ١
کلام دَوَوکړي او داسي جلال ومومي لکه چه په تاسي کښ دَي ٢ او دا ٢
چه مونږ له خوشو او له بدو سړو خلاص شوُ ځکه چه دَدغو ټولو ايمان
نشته ٣ مګر هغه خداوند امين دَي چه تاسي به مضبوط کړي او له ٣
هغه شرير نه به مو وژغوري ۴ او ستاسي په باب په خداوند کښ څما ۴
دا يقين دَي چه تاسي به هغه څيزونه چه مونږ ئِ حکم درکوُ په عمل راوړئِ
او و به ئِ کړئِ ٥ او خداوند دِ ستاسي زړونه دَ الله دَ محبت او دَ مسيح دَ ٥
صبر په لوري سم کړي
٦ او تاسي ته مونږ اي ورونړو دَ خپل خداوند يسوع مسيح په نوُم ٦
حکم درکوُو چه تاسي له هره وروره چه بي ترتيبَ ګرزي او نه دَ هغه
تعليم په موافق چه له مونږ ئِ واخست په دړه شئِ ٧ ځکه چه تاسي په خپله ٧
پوهيږئِ چه څرنګ بايده وُو چه تاسي څمونږ اقتدا وکړئِ ځکه چه مونږ
ستاسي په مينځ کښ بي ترتيبَ نه ګرزيدو ٨ او نه مو له چا نه وړيا ډوډئِ ٨

# اول خط دَ پولس رسول طمطاؤس ته

## اول باب

١ ١ پولس رسول دَ یسوع مسیح پهٔ موافق دَ حکم ځمونږ دَ خلاصونکي
٢ الله او دَ یسوع مسیح ځمونږ دَ اُمید ٢ طمطاؤس ته چه په ایمان
کښ حقیقي فرزند دي فضل او رحم او سلامتي دِ ځمونږ دَ پلار الله
او ځمونږ دَ خداوند یسوع مسیح وِي
٣ ٣ هغه وقت چه زه مقدونیي ته تلونکي وم نا ته مِ زارِي وکړه
چه په افسس کښ پاتي شه دَدي دَپارَ چه څنو ته حکم وکړي چه په
٤ بل شان تعلیم ورنه کړِي ٤ او په قصّو او په بيحدو نسب‌نامو متوجه
نه شِي چه تفحصونه پیدا کوِي په ځاى دَ هغي ناظرَيْ دَ الله چه په ایمان
٥ کښ دَه ٥ مګر انجام دَ هغه حکم محبت دَي چه په پاک زړه او په
٦ نیک تمیز او په بيريا ایمان سره وِي ٦ او څني په دي خبرو کښ وار
٧ خطا شوِي خوشو خبرو ته ګرزیدلي دِي ٧ دا غوارِي چه معلمان دَ شرعي
٨ شِي او نه پوهیږِي چه څه وایِي او کومي خبري تکراروِي ٨ مګر مونږ پوهیږو
چه شریعت ښایسته دَي که چرِي ئي څوک دَ شریعت په طور استعمال
٩ کوِي ٩ چه شرعه دَ صادق دَپارَ ینښي شوي نه دَه بلکه دَ بي‌شرعو او دَ
یاغیانو دَپارَ دَ بي‌دینو او دَ خطاکارانو دَپارَ دَ ناپاکو او دَ پلیتانو دَپارَ
١٠ او دَ پلرونو او دَ میندو وژلونکو دَپارَ ١٠ دَ سړو وژلونکو او دَ زانیانو او
دَ نرانو خملاستونکو دَ سړیو تښتونکو او دَ دروغژنو او دَ دروغو قسم
خوړونکو دَپارَ او که بل څه شي وِي چه دَ صحي تعلیم په خلاف وِي
١١ ١١ دَ مبارک الله دَ انجیل دَ جلال په موافق چه زه پرِي امانتدار شوي یم
١٢ ١٢ او زه دَ خپل خداوند یسوع مسیح چه ما ته ئي قدرت راکړ
شکرګذار یم چه زه ئي امانتدار وګڼلم په خدمت ئي مقرّر کړم

۲۱ تا چه دَ نورو ویره وښيي ۲۱ زه دَ اللهِ او دَ خداوند یسوع مسیح او دَ
غوره شویو فرښتو دَ وړاندِ په تا شاهدِي لګم چه ته به دا خبري بې
۲۲ له مخورئ وساتي او هیڅ کار به په طرفدارئ سره و نه کړي ۲۲ په بیړي
سره لاس په چامه بِږده او دَ نورو په خطاؤ کښِ شریک مه شه خپل ځان
۲۳ پاک و ساته ۲۳ او بیا اوبه مه څښه بلکه دَ خپل هضم او دَ هغو ناجوړتیاؤ
۲۴ دَپارَ چه وار په وار درباندِ راځي لږ څه شیره استعمال کوه ۲۴ دَ ځینو سړیو
خطاوي ښي ښکاره دِي او عدالت ته يې لا وړاندي بیاېي او په ځینو پسې
۲۵ ځي ۲۵ هم هسِي نیک کارونه ښه ښکاره دِي او هغه چه په بل شان دِي
پټولي نه شي ❊

## شپږم باب

۱ ۱ هر څو مریونه چه تر زُغ دَ لاندي دِي خپل خاوندان دِ دَ ډیر عزّت لایق
۲ وګڼي تا چه دَ الله په نامه او په تعلیم کفر و نه وایه شي ۲ او هغوي چه
ایمان‌دار خاوندان لري دَ هغو سپکه دِ نه کوي دي دَپارَ چه سره وروڼه
دِي بلکه زیات خدمت دِ وکړي ځکه هغوي چه په دي احسان کښِ شریکان
دِي مؤمنان او محبوبان دِي په دي خبرو تعلیم او نصیحت ورکوه
۳ ۳ که څوک بل تعلیم ورکوي او څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح صحي کلام
۴ او هغه تعلیم چه دَ تقویٰ په موافق دَي نه قبلوِي ۴ نو هغه سرهوا
دَي او په هیڅ نه پوهیږي بلکه دَ هغو سوالونو او دَ حرفي جګړو ناجوړه
۵ دي چه دِرنه کینه او جګړي او کفر او بدګمانونه پیدا کیږي ۵ او خراب
ذهن والو او دَ هغو تکرارونو چه له رښتیٔ نه خالي دِي او چه داګڼِي
۶ چه نفعه تقویٰ ده ۶ لیکن تقویٰ له قناعت سره ډیره نافعه ده ۷ ځکه
۸ چه مونږ دي دِنیا ته هیڅ دِننه راوړي نه دي ۸ ځکه توان نه لرو چه څه
ځیزونه بهر یوسو نو مونږ چه خوراک او پوشاک لرو په دي به کفایت
۹ کوو ۹ او هغه کسان چه دولتمندِي غواړِي په آزمایښت او په لومه او
په ډېرو پوچو بلوسیدونکو خواهشونو کښِ به پریوزي هغه چه سړي

# خط دَ پولس رسول و فلیمون ته

۱ ۱ پولُس قیدِي دَ مسیح یسوع او تیموطاؤس ورور و فلیمون عزیز
۲ او همکار خپونږ ته ۲ او عزیزي افیي خور ته او ارخپس خپونږ
۳ همسپاه ته او هغې کلیسیي ته چه ستا کره ده ۳ فضل او سلامتي
دِ خپونږ دَ پلار الله او له خداوند یسوع مسیح وِي
۴ ۴ زه همیشه دَ خپل الله شکر کوم او په خپلو دُعاؤکښ
۵ دِ ذکر کوم ۵ چه ستا محبّت او ستا ایمان چه په خداوند یسوع او
۶ په ټولو پاکانو ئې لري اورم ٦ تاچه ستا دَ ایمان شراکت دَ ټولي نیکيُ
په پیژاندلو کښ کارساز شي هغه چه دَ مسیح دَپارَ په تاسوکښ دَي
۷ ۷ ځکه چه ما ستا دَ محبّت په سبب ډیره خوشحالي او تسلي لرله ځکه
چه ستا له جهتَ اي ورور دَ پاکانو کُلمو تازګي موندلي دَه
۸ ۸ دي دَپارَ زه په مسیح ډیر زړورتوب لرم چه په تا باندي دَ
۹ هغه څه چه لایق دِي حکم وکړم ۹ لیکن دَ محبّت په سبب زیات
سوال کوم ځکه چه زه دغه سړي یم لکه سپین ږیري پولُس او اوس
۱۰ دَ مسیح یسوع قیدِي هم یم ۱۰ نو زه تا ته دَ خپل فرزند اُنیسمس په
۱۱ باب چه په قیدونو کښ مِ وزیږاوه سوال کوم ۱۱ هغه چه وړاندي
تا لره بي‌فایدي وه لیکن اوس ستا او ځما دَپارَ ښه فائده‌مند شه
۱۲ ۱۳ ۱۲ هغه مِ درواستاوه اوس هغه چه ځما کُلمي دي قبول ئې کړه ۱۳ او
ځما نیت وه چه هغه خپل ځان ځخه لرم چه ستا په ځاي له ما سره
۱۴ دَ انجیل په زنځیرونو کښ خدمت وکړِي ۱۴ لیکن بي له صلاح ستا مِ
اراده نه وَه چه څه وکړم تاچه ستا احسان په ضرورت سره نه
۱۵ بلکه په خوښيُ سره وِي ۱۵ چه هغه ګُندي دَدي دَپارَ له تا نه یو
۱٦ ساعت جدا شه چه بیا تل تر تله له تا سره وِي ۱٦ لیکن بیا دَ غلام

# خط دَ پولس رسول وعبرانيانو ته

## اول باب

١ الله چه ده له قديمه دَ نبيانو په وسيلي له پلرونو سره په طور طور ١
او په رنګارنګ خبري وکړي ٢ په دي آخرو ورځو کښ ئې له موږ سره ٢
په خوي کښ خبري وکړي چه ده په ټولو خبرونو وارث مقرّر کړي دَي
او چه دَده په وسيلي ئې عالمونه پيدا کړل ٣ هغه چه برېښنا دَده دَ جلال ٣
او نقش دَده دَ ذات شه او ټول څيزونه دَ خپل قدرت په خبري
سنبالوي چه څموږ خطاوي ئې پاکي کړي نو په ښي لاس دَ جناب اعلىٰ
کښيناست ٤ او له فرښتو نه دومره قدر بزرګ شه لکه چه څومره له ٤
هغوي نه دَ ډېر لوي نوم وارث شوي دَي ٥ څکه چه ده له فرښتو نه ٥
هم کله چا ته ويلي دي چه

ته م زوي يي
نن ورځ مې و زېږولي
او بيا دا چه زه به دَ هغه پلار شم
او هغه به م زوي وي

٦ او بيا چه ئې ورښي زېږېدلي په دنيا کښ را ننيوست نو وئې ويل چه ٦
ټولي فرښتي دَ الله دې سجده ورته وکړي
٧ او دَ فرښتو په حق کښ دا وايي چه ٧

دي خپلي فرښتي ارواحونه
او خپل خادمان دَ اور لمبي جوړوي

٨ ليکن دَ زوي په باب کښ وايي چه ٨

اي الله ستا تخت ابدالآباد دَي
او ستا دَ بادشاهي همسا دَ راستئ همسا ده

۱۶ خواهش حمل واخلي خطا زيږوي اوخطا چه كامله شي نو مرګ پيدا كوي ۱۶ اي
۱۷ خُما محبوبو ورونړو مه غوليږئ ۱۷ هر ښه بخشش او هر كامل انعام له پاسه دَي
اودَ نُورونو له پلار نه راښكته كيږي چه ورځنه دَ بدليدلو اودَ ګردِش سيوري
۱۸ نښته ۱۸ ده په خپلي ارادي سره موږ له حق كلام نه وزيږولو تاچه موږ ګويا
كښِ نوي ميوه دَده له مخلوقاتو شُو
۱۹ ۱۹ اي خُما محبوبو ورونړو په دا پوه شئ ليكن هر سړي دِ په اوريدلو
۲۰ كښ تيز په ويلو كښ درنګ كونكي او په قهر كښ سُست وِي ۲۰ ځكه چه
۲۱ دَ سړِي غُصّه دَ الله دَ صداقت عمل نه كوي ۲۱ دبي دَپاره دَ ټولي ګندګئ او
ډيروالي دَ بدئ وغورزوئ او په حليمئ كښ لګولي كلام قبول كړئ هغه چه
۲۲ قادر دئ چه ستاسي ځانونه خلاص كړِي ۲۲ ليكن تاسي په كلام باندِ عمل كونكي
۲۳ شئ نه تش اوريدونكي چه خپلو ځانونو ته فريب وركوي ۲۳ ځكه چه كه څوك
اوريدونكيَ دَ كلام دَي او عمل كونكيَ نه دَي نو دغه دَ هغه سړِي په شان
۲۴ دَي چه خپل خِلقي مخ په آئينه كښ وينِي ۲۴ ځكه چه خپل ځان
۲۵ ته نظر كوي اوځي او دستي ئي هير كړي چه څرنګ وه ۲۵ ليكن هغه چه
په كامل شريعت خبر شه په هغه شريعت دَ آزادګئ او ټينګ شه او اوريدونكي
نه هيرونكيَ شه بلكه عمل كونكيَ دَ كار نو هغه به په خپل عمل كښ مبارك
۲۶ وِي ۲۶ كه څوك ګنړِي چه زه ديندار يم او خپلي ژبي ته واګي نه اچوِي بلكه
خپل زړه وغولوِي نو دَ دغه دينداري باطله ده
۲۷ ۲۷ پاكه او بي عيبه دينداري څمونږ دَ الله او دَ پلار په نزد دا ده
دَ يتيمانو او دَ كونړو دَ دوي په تنګسه كښ پوښتنه كول او خپل ځان
له دنيا پاک ساتل ÷

## دويم باب

۱ ۱ اي ورونړو ايمان څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح ذوالجلال په رويدارئ
۲ سره مه لرئ ۲ دي دَپاره چه كه څوك دَ سرو زرو له ګوتي او له بريښيدونكي
جامي سره ستاسي جماعت ته درننوزي او يوخوار هم په خيرنه جامه كښ

څيزونو دَ انسان له ذات نه تابع کيږي او تابع کړي شوي دي ۸ ليکن ژبه ۸
هيڅوک له انسان نه توانيږي چه تابع ئي کړي چه دا ناقراره بدي دکه
له زهرِ قاتلو ده ۹ په دي سره مونږ دَ خداوند او دَ پلار مبارکي ۹
کوُو او په دي سره مونږ په هغو سړيو لعنت کوُو چه دَ الله مشابه شوي
دي ۱۰ له يوي خولي نه هم برکت او لعنت وزي اي څما وروڼو مناسب نه دي ۱۰
چه دا څيزونه داسي وشي ۱۱ کنړه کومه چينه له يوه سوري نه خوږي او ترخي ۱۱
او به زيږوي ۱۲ اي څما وروڼو توانيږي چه دَ انځيرُونه بنوون راوړي او انګور ۱۲
انځير او نه مالګيني او به خوږي ورکولي شي
۱۳ څوک دَي چه په تاسي کښ دانا او عالِم دَي نو له نيکخوئيِ دِخپل ۱۳
عملونه په حليمتوب دَ دانائيِ ظاهر کړي ۱۴ ليکن که تاسي په خپل زړه ۱۴
کښ تريخ غيرت او فتنه لريِ نو فخر مه کوئِ او په خلاف دَ رښتيا دروغ
مه وائيِ ۱۵ دا دانائي له پاسَ رانښکته کيدونکي نه ده بلکه زميني نفساني ۱۵
شيطانيِ دَه ۱۶ څکه چرته چه غيرت او فتنه ده هلته کښ تشويش او هر ۱۶
پليت کار دي ۱۷ مګر هغه دانائي چه له پاسه ده نو اوّل خو پاکه ده بيا ۱۷
صلحه کونکي حليمه نرمه دَه له رحم او له ښو ميوو نه دکه بي طرفداريِ
بي ريا ۱۸ او دَ صداقت ميوه په صلحه کښ دَصلحي کونکو دپارَ کرلي کيږي * ۱۸

# څلورم باب

۱ له کومه جنګونه او جګړي په تاسي کښ دِي کنړه له څايه نه دِي ۱
څه ؟ يعني ستاسي له لذّتونو چه ستاسي په اندامونو کښ جنګيږي
۲ تاسي طمع کوئِ او نه لريِ قتل او حرص کوئِ او هيڅ حاصلولي نه شئِ ۲
تاسي جنګ او جدل کوئِ او نه لريِ څکه چه تاسي سوال نه کوئِ ۳ تاسي ۳
سوال کوئِ او نه مومئِ څکه چه بد سوال کوئِ تا چه په خپلو لذّتونو
ئي خرڅ کړئِ ۴ اي زانيکو کنړه تاسي نه پوهيږئِ چه دَ دنيا دوستي دَ الله ۴
دُښمني ده نو هر څوک چه غواړيِ چه دَ دنيا دوست شي نو خپل ځان
دَ الله دُښمن کوي ۵ يا تاسي دا ګمان کوئِ چه کتاب عبث وائي چه هغه ۵

# اوّل عام خط دَ پطرس رسول

## اوّل باب

۱ پطرس دَ یسوع مسیح رسول هغو مسافرانو ته چه په پنطس او گلاتیه ۱
او کپدوکیه او آسیه او بتونیه کښې خواره واره دِي ۲ او دَ الله پلار دَ ۲
علمِ قدیم په موافق او دَ روح په پاکیزگۍ کښې غوره شوِي دِي دَپارَ دَ تابعدارۍ
او دَ یسوع مسیح دَ وینو په چنڅکاؤ کیدلو فضل او سلامتي دِ په تاسي
باندِ زیات شي
۳ هغه الله او پلار خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح دِ مبارک وِي ۳
چه ده مونږ دَ خپل لوي رحمت په موافق سره دَ یسوع مسیح دَ ژوندِي
پورته کیدلو په وسیلي له سرِیو دَ ژوندِي امید دَپارَ سر دوباره پیدا کړو
۴ دَپارَ دَ میراث چه نه فنا کیږِي او نه گنده کیږِي او نه مړاوي کیږِي ۴
ساتلي شوِي په آسمانونو کښې ستاسي دَپارَ ۵ چه دَ ایمان په وسیلي دَ ۵
الله په قدرت تر هغه نجات پورِي چه په آخر وقت ظاهریدلو ته تیار
دِي محفوظ شوِي یئِ ۶ چه په هغه تاسي ډیرِ خوښي کوئِ سره له دي ۶
چه اوس لږِ مُده که ضرور وِي په رنگارنگ ازمایښت سره غمزده یئِ -
۷ تا چه ستاسي دَ ایمان کره والي چه له فاني سرو زرو اگر که په اور سره ۷
ازمایلي کیږِي زیات قیمتي دِي دَ یسوع مسیح په ظهور کښې دَ مدحي او
دَ جلال او دَ عزّت لایق ومونډلي شي ۸ هغه چه تاسي په نادیده ورسره ۸
محبت کوئِ په هغه چه اوس ئې نه وینئِ نو هم ایمان موږِ راوړِ داسي
خوښي او خوشحالي کوئِ چه بیان ئې نه کیږِي او له جلال نه ډک حاصلوئ
دَ انجام دَ ایمان ستاسو یعني دَ ځانونو نجات ۱۰ هغه نجات چه نبیانو ۱۰
ئې په سعي سره تلاش او تحقیق وکړ هغوي دَ هغه فضل چه تاسي ته
راتلونکي وه پیش‌خبري وکړه ۱۱ چه تلاش ئې کاوه چه دغه کومه او څه زمانه ۱۱

آسمانونه له قدیمه وُو او دَ الله په کلام سره زمکه له اوبو او په اوبو کښې
سره ودرولي شوه ٦ چه له دوي نه هغه چه دَ هغه عالم وه هلاک شول ٦
٧ مګر اوسني آسمانونه او زمکه هم په دغه کلام سره اور ته ذخیره کړې ٧
شوي او دَ بې دینو دَ عدالت او دَ هلاکت تر ورځې پورې ساتلي شوي دي
٨ او اې محبوبانو دا یوه خبره دِ له تاسي پټه نه وي چه دَ خداوند ٨
په نزد یوه ورځ لکه زرکاله او زرکاله لکه یوه ورځ دي ٩ خداوند په ٩
خپلو وعدو کښې ډیل نه کوي لکه چه ځيني ئې ډیل ګڼي بلکه تاسو ته اوږد
صبر کوي او نه غواړي چه څوک هلاک شي بلکه دا چه ټول توبې ته رجوع
وکړي ١٠ لیکن دَ خداوند ورځ به لکه دَ غلهٔ هسې راشي چه په کښې به آسمانونه ١٠
په غرنګ سره تیر شي او عنصرونه به سیزلي شوي او ویلي به شي او زمکه
او کاریګري چه په کښې دي و به سیزلي شي ١١ نو هرکله چه دا ټول ځیزونه ١١
ویلي کیدونکي دي نو څرنګ کسان بائیده دي چه تاسي شئ په پاک خوي
او په تقویٰ کښې ١٢ کتونکي او په شوق سره انتظار کونکي دَ راتلو دَ ورځې دَ ١٢
الله چه په هغي کښې به آسمانونه سیزلي شوي او ویلي شوي او عنصرونه
به په جوش ویلي شي ١٣ لیکن مونږ دَ ده دَ وعدې په موافق دَ نویو آسمانونو ١٣
او دَ نوي زمکې چه صداقت په کښې اوسي انتظار کوو

١٤ دي دَپاره اې محبوبانو هرکله چه تاسي دَ دي ځیزونو انتظار کونکي ١٤
یئ کوشش کوئ چه بې داغه او بې عیبه دَده په حضور په صلح کښې و
موندلي شئ ١٥ او څمونږ دَ خداوند اوږد صبر نجات وګڼئ لکه چه ١٥
څمونږ محبوب ورور پولس هم دَ هغه حکمت په موافق چه ده ته ورکړې
شوی دي تاسو ته ولیکل ١٦ لکه چه په ټولو خطونو کښې دَدې ځیزونو ١٦
په باب کښې ذکر کوي چه په کښې ځيني ځیزونه دي چه پوهیدل ئې ګران
دي چه جاهلان او بې ټیکانړي خلق ئې دَ نورو پاکو کتابونو په شان
دَ خپل هلاکت دَپاره کږوي

١٧ نو اې محبوبانو تاسي وړاند په دي پوه شئ خبردار شئ هسې نه وي ١٧

۱۰ زوي په حق شاهدِي للي ده ۱۰ هغه چه په اِبنُ الله ايمان راورِي په
خپل ځان کښې شاهدِي لرِي هغه چه په الله ايمان نه راورِي نو
دروغژن کړِي ئې دَي ځکه چه ده په هغې شاهدئِ چه الله دَ خپل
۱۱ زوي په حق کښې للي ده ايمان ئې را نه وړ ۱۱ او هغه شاهدِي دا ده چه الله موږ
۱۲ ته ابدي ژوندون راکړ او هغه ژوندون دَده په زوي کښې دَي ۱۲ هغه څوک چه زوي
لرِي ژوندون لرِي او هغه چه دَ الله زوي نه لرِي ژوندون نه لرِي
۱۳ ۱۳ ما تاسي ته دا خبرِي ليکلِي دِي تاچه وپوهيږئِ چه ابدِي ژوندون
۱۴ لرِي هو تاسو ته چه دَ اِبنُ الله په نامه ايمان راورِئِ ۱۴ او هغه دَ
ويلو واک دا دَي چه دَده په نزد ئې لرو چه که موږ دَده دَ اِرادي په
۱۵ سوافق څه څيز سوال کوُو نو دي څموږ اورِي ۱۵ او که موږ پوهيږُو چه
دَي څموږ اورِي هرڅه چه موږ سوال کوُو نو موږ پوهيږُو چه هغه
۱۶ سوالونه چه موږ له ده سوال کړِي وُو موږ ځخه دِي ۱۶ که چرِي څوک
خپل ورور خطا کونکيَ دَ خطا وويني چه دَ مرګ سبب نه ده نو سوال
دِ وکړِي او الله به ژوندون ورکړِي هغو ته چه دَ مرګ دَپارَ خطا
نه کړِي خطا شته چه دَ مرګ دَپارَ ده زه نه وايم چه دَهغي په باب
۱۷ دِ سوال وکړِي ۱۷ هره ناراستِي خطا ده مګر داسي خطا شته چه
دَ مرګ دَپارَ نه ده
۱۸ ۱۸ موږ پوهيږُو چه هغه څوک چه له الله نه پيدا شوِي دِي
خطا نه کوِي بلکه هغه پيدا شوِي له الله نه خپل ځان ساتي او هغه
۱۹ شرير ئې نه مسّه کوِي ۱۹ موږ پوهيږُو چه له الله يُو او ټول عالم
۲۰ په شرير کښې پراته اوسِي ۲۰ او موږ پوهيږُو چه ابن الله راغي او موږ
ته ئې دا پوهه راکړه چه هغه حق وپيژنو او موږ په هغه حق کښې
يُو دَده په زوي يسوع مسيح کښې دا هغه حق الله دَي او ابدِي
۲۱ ژوندون ۲۱ اي فرزندانو له بتانو نه خپل ځانونه وژغورئِ *

# مکاشفات دَ یوحنّا لاهوتي

## اوّل باب

۱ مکاشفه دَ یسوع مسیح چه الله ده ته ورکړه تاچه دَ ده غلامانو ۱
ته هغه خبري چه زر يُ کیدل ضرور دِي ښکاره کړي او ده دَ
خپلي فرښتي په وسیلي سره استولي خپل بنده یوحنّا ته يُ
نقشه کړه ۲ هغه چه په کلام دَ الله او دَ یسوع مسیح په شاهدئ ۲
باندي او په هرڅه چه ده ولیدل شاهدِي وکړه ۳ مبارک هغه ۳
دَي چه لولي يُ او هغوي چه خبري دَ نبوّت اوري او هرڅه چه په
دي کښ لیکلي دِي و يُ ساتي ځکه چه وقت نژدي دَي

۴ یوحنّا هغو اوو کلیسیاؤ ته چه په آسیه کښ دِي فضل تاسو ۴
لره او سلامتي له هغه نه چه شته او هغه چه وه او هغه چه راځي
او له هغو اوو روحونو چه دَ ده دَ تخت دَ وړاندِ دِي ۵ او له یسوع ۵
مسیح نه چه امین شاهد او اوّل زیږیدلي له مړیو او سردار دَ بادشاهانو
دَ زمکي دَي حاکم او هغه لره چه له مونږ سره يُ محبّت وکړ او په
خپلو وینو سره يُ مونږ خمونږ له خطاؤ پریوځلو ۶ او مونږ يُ ۶
بادشاهان او کوهینان په نزد دَ الله او پلار خپل کړلو هم هغه لره
دِ تمجید او قوّت تر ابدالآبادَ پوري وِي آمین ۷ گوريِ هغه له اوريځو ۷
سره راځي او هره سترګه به يُ وويني او هغه کسان هم چه دي يُ
سوري سوري کړل او ټول قومونه دَ زمکي به په ده باندي وير وکړي
هو آمین

۸ زه یم هغه الفا او اومګا خداوند الله وايي هغه چه شته ۸
دَي هغه چه وه او هغه چه راځي هغه چه قادرِ مطلق دَي ۹ زه یوحنّا ۹
ستاسي ورور او شریک په تنګسیا او په بادشاهيِ او په صبر کښ

چه ته وايي چه زه دولتمند يم او مالدار شوي يم او دَ هيڅ شي
حاجت نه لرم او نه پوهيږې چه ته کمبخت او بدبخت او خوار او روند
۱۸ او برمنډ يې ۱۸ زه تا ته دا مصلحت درکوم چه ته له ما نه په هغه شان
سره زر چه په اور کښې کره شوي دي وپيره تا چه دولتمند شې
او سپيني جامې تا چه واغوندې او شرم دَ برمنډتوب دِ ظاهر
۱۹ نه شي او په خپلو سترګو رانجه پورې کړه چه بينا شې ۱۹ په هغو
ټولو چه زه مينه کوم هغه ملامتَ او تنبيه کوم نو غيرت ناک شه
۲۰ او توبه وکړه ۲۰ ګوره زه په دروازه ولاړ يم او ټکوم يې که څوک څما
آواز واورِي او دروازه پرانزي نو زه به هغه ته ور ننه وځم او زه به
۲۱ ورسره دَ نمانښام خوراک وکړم او هغه به له ما سره ۲۱ هغه
چه غالب شي نو زه به ورکړم چه راسره څما په تخت کښيني لکه
چه زه هم غالب شوم او دَ خپل پلار سره دَده په تخت کښې ناست
۲۲ يم ۲۲ هر څوک چه غوږ لري وادِ وري چه روح کليسياؤ ته څه وايي ۞

## څلورم باب

۱ ۱ پس له دي مِ نظر وکړ او ګورئِ چه په آسمان کښې يوه دروازه
وازه ده او اوّل آواز چه ما واوريده چه لکه دَ شپيلئ چه راسره
يې خبره وکړه ويل يې چه دلته راوخيژه او زه به هغه درښکاره
۲ کړم چه پس له دي به ضرور وشي ۲ نو دستي په روح کښې شوم
او ګوره چه په آسمان باندي يو تخت ايښي وه او په هغه تخت باندِ
۳ څوک ناست وه ۳ او هغه چه ناست وُد په شکل کښې دَ سنګِ
يشم او دَ عقيق په شان وه او په ګرداګرد دَ هغه تخت قوسِ قزح
۴ په نظر کښې دَ زمرد په شان وه ۴ او دَ هغه تخت په ګرداګرد
څليرويشت تختونه وه او په هغو تختونو باندِ څليرويشت سپين ږيري
ناست وُو چه سپيني جامې يې آغوستي وې او په سرونو يې دَ
۵ سرو زرو تاجونه وُو ۵ او له هغه تخته برېښنه او آوازونه او غړنبهار

۵ چه اووه غړنبهارو و ويل مهر ئي کړه او مه ئي ليکه ۵ او هغي فرښتي
چه ما په درياب او په زمکه ولاړه وليده خپل لاس ئي دَ آسمان په
۶ لوري پورته کړ ۶ او قسم ئي وکړ په هغه ژوندي چه تر ابدالاباد دَي
چه آسمان او هغه څه چه په هغه کښ دِي او زمکه او هغه څه
چه په هغي کښ دِي او درياب او هر څه چه په هغه کښ دِي
۷ پيدا ئي کړل چه پس له دي به وقت نه وِي ۷ مګر دَ اوومي فرښتي دَ
آواز په ورځو کښ هرکله چه هغه دَ شپيلۍ په غږولو وِي نو راز
دَ الله به پوره شِي لکه چه ده خپلو بندګانو نبيانو ته زيري ورکړي
۸ دَي ۸ او هغه آواز چه ما له آسمانَ آوريده خبري ئي بيا راسره
وکړي ويل ئي چه لاړ شه هغه کتاب واخله چه دَ هغي فرښتي په
لاس کښ پرانتلي شوي دَي چه په درياب او په زمکه باندِ ولاړه ده
۹ ۹ نو زه هغي فرښتي ته ورغلم ور ته مِ ووِ چه هغه ورکوتي کتاب
راکړه هغي راته وُوِ وا ئي خله او و ئي خوره او ستا ګيډه به ترخه
۱۰ کړي ليکن په خولي کښ به دِ دَ شهدو په دود خوږ وِي ۱۰ او ما
هغه ورکوتي کتاب دَ فرښتي له لاس نه واخست و مِ خوړ او څما
په خولي کښ دَ شهدو په دود خوږ وُه او چه و مِ خوړ نو ګيډه
۱۱ مِ ترخه شوه ۱۱ او ما ته وائِي چه تا ته لازم دِي چه بيا په ډيرو
امتونو او غير قومونو او ژبو او بادشاهانو نبوّت وکړي ۞

## يولسم باب

۱ ۱ او يوه درمه دَ همسا په شان ما ته راکړي شوه و ئي ويل چه
پورته شه بيت‌الله او قربانګاه او هغه چه سجدي په کښ کوِي ګچ کړه
۲ ۲ مګر هغه غولي چه له بيت نه باهر دي وغورزوه او مه ئي ګچ
کوِ څکه چه هغه غير قومونو ته ورکړي شوي دي او هغوي به پاک
۳ ښهر دوڅلويښت مياشتي پايمال کړِي ۳ او زه به خپلو دوو
شاهدانو ته ورکړم او هغوي به شړيِ آغوستي* يو زر دوه سوه

دَ آسمان الله ته ئي جلال ورکړ
١٤ دويم هئ تېر شه گوره چه دريم هئ زر راځي ١٤
١٥ او اووم فرښتي شپيلۍ وغږوله او په آسمان کښ ١٥
لوي آوازونه وشول ويل ئې چه بادشاهي دَ دنيا څمونږ دَ خداوند
او دَده دَ مسيح شوي دَه او تر ابدالآباد به بادشاهي وکړي ١٦ او ١٦
هغه څلېرويشت سپين ږيري چه په خپلو تختونو باندي دَ الله
دَ وړاندِ ناست دِي پړمخ پرېوتل او الله ته ئې سجده وکړه وئې
ويل ١٧ چه مونږ ستا شکر کوُو اي خداوندَ الله قادرِ مطلقَ ١٧
چه يي او چه وې څکه چه تا خپل لوي قدرت واخست او بادشاهي
دِ وکړه ١٨ او قومونه په غضب شول نو ستا غضب راغي او وقت ١٨
دَ عدالت کولو دَ مړيو او چه خپلو بندگانو نبيانو او پاکانو او
وېرېدونکيو دَ نوم خپل ته که وړوکي که لوي دي اجر ورکړي شي
او چه خراب کړي شي هغوي چه زمکه خرابوي
١٩ او بيت الله په آسمان کښ پرانتلي شه او دَده په بيت ١٩
کښ دَده دَ وعدي صندوق وليدلي شه او برقونه او آوازونه
او غړنبهاري او زلزله او لويږلۍ وشول ❖

## دولسم باب

١ او يوه لويه نخښه په آسمان کښ وليدلي شوه يوه ښځه په ١
نمر پوشيده او سپوږمۍ دَ هغي تر پښو دَ لاندي او په سر ئې
دَ دولسو ستوريو تاج ٢ او هغه بارداره وه او دَ لنگانه په ٢
درد او دَ زېږولو په عذاب کښ ئې ناري کولي ٣ بيا يوه بله نخښه ٣
په آسمان کښ وليدلي شوه او گوره يو لوي سُور اژدها چه
اووه سرونه او لس ښکرونه ئې لرل او په سرونو ئې اووه تاجونه
وُو ٤ او دَ هغه لکۍ دَ آسمان دَ ستوريو دريمه حصّه راکاږله ٤
او په زمکه ئې وغورزوله او اژدها دَ هغي ښځي دَ وړاندِ چه په

